سختی را پشت سر گذارند تا کاملاً ورزیده شوند در قرآن مجید نمونه های زیادی از آزمایشهای پیغمبران یاد شده، مثلاً: به هود (ع) نسبت نارواي (سفاهت) میدادند او در جواب فقط میگفت: «من سفیه نیستم» و بکار خود ادامه میداد.

شعیب (ع) را تهدید به تبعید و سنگباران کردند و در راه تبلیغ او موانعی بوجود آوردند، موسی (ع) نیز در چار پیروان سنگدل و بهانه جو بود که در هر فرصتی برای حضرتش انواع ناراحتی ها بوجود می آوردند، تا آنجا که مزاحمت های این پیروان از مشکلات شخصی فرعونیان برای او فراهم ساخته بودند بیشتر و ناراحت کننده تر بود.

نوح (ع) با مشکلات عجیبی روبرو بود، در عصری می زیست که مردم ثروتمند، خودخواه، متکبر، و لجوج سنگدل زندگی میکردند، تا آنجا که پس از صدها سال دعوت و تبلیغ بسوی خدا (ج)، عدهٔ بسیار کمی با او ایمان آوردند که شاید به نسبت هر (۱۲۰) سال یک نفر بود و این خود می رساند که این پیغمبر (ع) با چه مشکلاتی روبرو بود.

همچنین سایر پیامبران بزرگ هریک به نوبه خود گرفتار انواع مشکلات بودند و همین مواجهه با مشکلات در پرورش شخصیت آنها اثر میگذاشت وقدرت روحی آنها را بیشتر می ساخت

اکنون که از آیهٔ مورد بحث فهمیدیم که خدا (ج) همه را آزمایش میکند ممکن است سوال شود راه موفقیت ما

در این آزمایشها چیست و چه باید کرد تا پیروزشد ؟ پاسخ این سوال را ذیل همین آیه وآیات دیگر قرآن مجید بروشنی می یابیم :

۱- نخستین گام برای پیروزی در امتحانات همان است که در جملهٔ کوتاه و پر معنی « **وبشرالصابرین** » آمده است این جمله با صراحت میگوید رمز موفقیت در مقابل مشکلات و آزمایشها صبر و استقامت است و به همین دلیل بشارت پیروزی در امتحانات را باید به افراد باستقامت داد.

چیزیکه بر استقامت انسان می افزاید توجه به گذرابودن این حوادث است و اینکه زندگی این جهان گذرگاهی بیش نیست بهمین دلیل ذیل آیه می فرماید : صابران کسانی هستند که با بی اعتنائی به حوادث مشکل و سخت به مبارزه بر می خیزند و منطق شان این است : « **انا لله وانا الیه راجعون** » ما از سوی خدا آمده ایم و بسوی او باز می گردیم » بنابرین از مشکلات وحشتی ندارند.

۲- استمداد از نیروی ایمان و الطاف الهی : در آن هنگام که انسان دستخوش حوادث می شود، گاهی اعتدال خود را از دست میدهد ، واضح است که هرقدر حادثه بزرگتر باشد اضطراب بیشتری خواهد داشت .

درین مواقع مردان خدا ، چون برنامه و هدف روشنی دارند بدو تحیر بوظیفهٔ خود عمل میکنند و خدا هم بآنها روشن بینی بیشتری میدهد که راه صحیح را تشخیص

دهند و دچار تردید نگردند .

قرآن کریم بیان فرموده :

«والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا»

کسانیکه در راه ما به جهاد برخیزند آنها را بسوی راههای خود هدایت می کنیم .

۳- بررسی تاریخ گذشتگان :-

توجه به تاریخ پیشینیان و مشکلات بزرگی که آنها با آن مواجه بوده اند ، در آماده ساختن روح انسان در برابر آزمایشهای پروردگار مؤثر است ، زیرا انسانی که خود را با مشکلات مواجه می بیند ، اگر احساس تنهائی کند در نیروی مقاومت و پایداری او ممکن است خللی رخ دهد اما توجه باینکه این مشکلات برای اقوام دیگر نیز بوده و موفقیت و پیروزی نصیب آن دسته شده است که از استقامت بیشتری برخوردار بوده اند ، نیروی پایداری انسانرا بیشتر میسازد ، و لذا قرآن مجید در بسیاری از موارد برای دلداری پیامبر و تقویت روح او در برابر مشکلات اشاره به تاریخ گذشتگان و حوادث دردناک زندگی آنها می کند :

« ولقد استهزئ برسل من قبلک » اگر تو را استهزاء کنند نگران نباش پیامبران پیشین نیز گرفتار استهزاء مردم بودند و با استقامت بر این مشکلات پیروز شدند .

٤ـ یادآوری نعمتها :

تاجری که یک روز به ضرری مواجه می شود اگر روزهای بیشتری را که درآمدهای سرشار در آن داشته بخاطر بیاورد از یأس و ناراحتی او خواهد کاست و بر نیروی پایداری او خواهد افزود روی این حساب باید به هنگام بروز مشکلات به یاد نعمتهای بیشمار الهی بود و خود را بوسیلهٔ آن آرامش داد و روح مقاومت را درخویش تقویت نمود ، قرآن کریم به این موضوع چنین اشاره فرموده :

«فاذکروا آلاء الله لعلکم تفلحون» نعمتهای خدا را به یاد آرید تا رستگار و پیروز شوید ».

۵ـ توجه باینکه خداوند (ج) از همه چیز آگاه است :

کسانیکه درمسابقات خسته کننده و طاقت فرسا شرکت می کنند همینکه احساس می نمایند که جمعی از دوستان و علاقمندان در اطراف میدان سابقهٔ آنها را می بینند ، تحمل مشکلات برای آنان آسان می شود ، و با شوق و عشق بیشتر به نبرد با مشکلات بر میخیزند .

جائیکه وجود چند انسان تماشاچی در روح انسان چنین اثری داشته باشد توجه باین حقیقت که خداوند (ج) همهٔ مجاهدتهای ما را در برابر امتحانات می بیند و از آن آگاه است پیدا است چه اثری در روح انسان و عشق وعلاقه او به ادامهٔ این جهاد خواهد گذاشت ، قرآن مجید میگوید ، به هنگامیکه نوح (ع) تحت شدیدترین فشار از ناحیهٔ قومش

مامور به ساختن کشتی شد خداوند (ج) خطاب کرد: «فاصنع الفلک باعیننا» در برابر ما کشتی بساز» جملهٔ «باعیننا» در برابر ما چنان قوت قلبی به نوح (ع) بخشید که استهزاء دشمنان اثری در روح او نمی گذاشت.

«اولئک علیهم صلوات من ربهم»

در آیهٔ قبل بیان شد که مردان صابر از توجه به زودگذر دنیا و تلقین معنای «انا لله وانا الیه راجعون» استمداد گرفته و بر مشکلات پیروز می شوند.

درین آیه می فرماید: «صلوات خدا (ج) که به معنای تزکیه و مقام ارجمند و مغفرت و تفضلات مخصوصه است بر آنها باد. همانطوریکه از قرآن حکیم استفاده می شود برای خدا (ج) دو نوع رحمت است: رحمت عمومی و رحمت خصوصی.

«ورحمتی وسعت کل شیء فسأکتبها للذین یتقون»

رحمت من بر همه چیز سایه افگنده و البته قرار میدهم ولازم می کنم آنرا برای آنها که پرهیزگار اند.

اما چون آیه در مقام بیان پاداش و مقام ارجمند صابران است، لذا مراد از رحمت در اینجا رحمت خصوصی است که تنها مردان خدا (ج) و صابران از آن بهره مند میشوند.

اما اینکه لفظ «صلوات» جمع آورده شده ولفظ «رحمت» مفرد است، بخاطر آن است که رحمت خدا (ج) دارای معنای وسیعی است که نمونه های زیادی دارد و هر نوع لطفی

(بقیه در ۱۵)

استاد خلیلی

پیام محمود غزنوی

به مسلمانان پاکستان و هندوستان

سحر آمد پیام از پیشگاه کاخ سلطانی
مسلمانان مسلمانان! مسلمانی مسلمانی

بیاد آرید ایامی که از گرد سوارانم
سیه می شد بچشم مشرکان خورشید نورانی

بیاد آرید آن شبها که تیغ آسمان گونم
کشیدی بر فضا رخشنده خط از نور یزدانی

زغزنی بود تا لاهور از لاهور تا دهلی
عَلَم های سپاهِ من چو شاهین در پرافشانی

به پیشاپیش لشکر بود روشن مشعل قرآن
بیابان در بیابان در دل شبهای ظلمانی

براهِ عزم پولادینِ ما هرگز نشد مانع
نه صحراهای آتش زا نه دریاهای طوفانی

بران بودم که نگذارم دگر انسان بپای بت
گذارد بنده آسا از کمال عجز پیشانی

نثار پای حیوانی نماید حضرت انسان
فروزان گوهر ارزندهٔ والای انسانی

کند خم قامت سروش به نزد ناتوان سنگی
که افتاده سبک در پیش هر پا از گران جانی

دریغ آمد که بگذارم دگر در بند محرومی
عروس آدمیت را که این جا بود زندانی

دریغ آمد که بینم شاهد بزم آفرینش را
ستاده بر درِ بتخانه ها در حال دربانی

دریغ آمد که انسانی چو خود انسان دیگر را
نگارد خطِّ نامأنوس جای خطِ پیشانی

بخاک بتکده بنیاد کردم معبد توحید
ز اهرمن نمودم پاک درگاه سلیمانی

به لاهور است تا صبح ابد خورشید حق طالع
فرازِ خوابگاهِ کج بخشِ فیضِ ربانی

بجای طاق بتخانه کنون شبها بود روشن
هزاران شمع بر بالین اجمیری و ملتانی

من اینجا عشق را کردم سریر آرای ـ ملک دل
نمودم حسن لیلا را به مجنون بیابانی

فرید الدین خسرو شد به یمن تیغ من شهره
یکی اندر شکر ریزی یکی اندر نواخوانی

کنم تا پاک ازین کشور ره و رسم غلامی را
ایازی را نشاندم بر قرار عرش خاقانی

ندا دادم که مسجود ملایک را نمی زیبد
نثار سجده جز در بارگاه پاک یزدانی

نوشتم با خط شمشیر بر هر سنگ این وادی
حدیثی از خدا جویی رموزی از خدادانی

• • •

• فغانِ ما در غمدیده می آید بگوش من
درین شب ها بجای نغمهٔ جان بخش قرآنی

چه در گوش چمن گفته نسیم صبحدم امروز
که اشک آلوده می بینم گل و برگ گلستانی

بشهر خود چرا گسترده بینم دامن ماتم
مگر بار د تگرگ مرگ این جا ابر نیسانی

بجای نعرهٔ شیپور می آید صدای مرگ
درین شهری که برپا بود رایات جهانبانی

مسلمانان! پس از نه قرن می بارد کنون آتش
بکاخ و روضهٔ من د شمن غار تگر جانی

شود قبر مسلمانی در یغا طعمهٔ آتش
که عمری بود قصر دین حق را هتش بانی

بر ان عزمند این ملت فروشان خدانشناس
که مشت استخوانم را کشند از قبر پنهانی

سپا رندم بد ست مشرکان کز پیکرم سازند
در بتخانه را فرشِ نو از ایوان سلطانی

اگر چشم جهانبین مرا دست قضا بسته
تو ای جمع مسلمان پاشو از خواب پریشانی

اگر شمشیر من شد در نیام ای ملت مؤمن
تو را میراث شمشیر خدا گردیده ارزانی

بناموس مسلمان می‌کند بازی کنون ملحد
مسلمانان مسلمانان! مسلمانی مسلمانی.

فروری ۱۹۸۵

●

این مصراع «مسلمانان مسلمانان! مسلمانی» از قصیدهٔ حکیم سنایی غزنوی تبرکاً درین جا تضمین شده، قبر سنایی را با مقبرهٔ پدر و مادر داتا گنج بخش علی هجویری سپاه روس پامال نموده

«خلیلی»

همیش خلیل

د بهار گلونو!

خومره بنایسته، خومره حسین بنکارپرئ
څنګه تازه-تازه رنګین بنکارپرئ
لکه دستورو، د آسمان په چمن
مسکي مسکي او دلنشین بنکارپرئ

•

خو، د بهار بنایسته، بنایسته ګلونو!
په محبت کې پامال شوو زړونو!
چې کله د تاسو پژمرده وو ویښم
د بدخشان دانه-دانه لعلونو!

••

ماسره غم شي، پریشان غوندې شم
خزان وهلی ګلستان غوندې شم
چې درته ګورم اسویلی شمه زه
یو زاره چودی ګریبان غوندې شم

•••

شاید دا څکه چې انجام مویودی
سحر مویودی، هم مابنام مویودی
تاسو چمن، زه د وطن دپاره
ژړې موبلې، خو پیغام مویودی.

●

«برېژنف» په چې مردار شوکاریې زارشو
«اندروپوف» په له بو پف سره گوزار شو
«چرینکو» که هرڅوچریده وخت تېر و
«گربه چوف» یوچوپ پرې وکړ په قرارشو

۱۳۶۳/۱۲/۲

عبدالله غمخور

بهار دته !

زه په خپلو وینو رنګ یم ، د رنګونونه بېزار یم
د بهار به څه منت وېم، چې دیار د غاړې هار یم

خوشبویي زما د وینو، سرلویي کـــوي په مشکو
بې نیازیم له نسیمه ، زه لاله د کـــوهســـار یم

غلبلي د نام ونګ مې ، آسمانونو ته رسیږي
هنګامه د مرینو یم ، د بسمل مـرغه چغار یم

زمزمه یم جاودانه ، د ازل-ابد په شوندو
تازه ګل خو بې نیازه له خزان او له بهـــار یم

د فطرت په حدیقه کې مې عالم په تماشا دی
د خپل رنګ له برکته، د هر رنګونو سپلار یم

زر بهاره مالیدلي، زرخزانه ماکتلي
چې ماضي پرې بنايسته ده، دهغه کارونو غاريم

چې تاريخ پرې کوي فخر، اوملت پرې کړي نازونه
زه د هغو لاسوتوره، زه د هغه سر دستاريم

د غيرت په څوکه ناستيم، د خودې په نيلي سويم
چې يې مرګ نه شي وژلی، د هغو ميو خماريم

آزمايلی يم وخټونو، په خوځلـه ـ په خورنګه
ملیت مې افغانی دی، قهرمان د کاروزاريم

په رنګونو ـ په خوندونو پسې ته ګرزه بهاره!
زه اخنه د قلم په ويريم، د غمجنو غمګساريم.

●

ندای طور

مژده ای دل که دگر باد صبا باز آید
از سکوت دل کوهسار صدا باز آید

بهر این رهرو گمراه درین شام سیاه
پرتو صبحدم و بانگ درا باز آید

بهر این زخمیٔ افتاده به سنگر تبدار
یارِ عیار و پرستار و دوا باز آید

عاقبت تازه شود این چمن و پائیزی
بوی جان بخش بهاران زهوا باز آید

سوسن و سوری و سنبل به چمن گرد آیند
بلبل مانده ز گلزار جدا باز آید

ظلمت ظلم برین وادی مظلوم بس است
وقت آن است که از طور ندا باز آید.

محمد آصف صميم

بيا پسرلی شوخو...

پسرلی د هغه قاصد دنوم دی :
چې د کائنا تو هر عنصر و رته سترګې پرلاړ وی ،
چې د ډيوه سترو ماڼوونکي ژوبنه د پای زيږي ورسره وي،
چې د ځوريدليو د تورتم برخليک (سرنوشت) د لاړکې
پيغمبر وي ،
چې د « فان مع العسر يسرا ان مع العسر يسرا . . . . »
ژوندی تفسير وی
چې له يوې ځوروونکې فضاء نه د راوريدلي غم د زغم
پيلوونه او محصول وي
چې مټر پټو او تښتو زيات تړې لوڅ او بر بښنې
لذت وړي
چې په خوندې ترمعشوقانو زيات عاشقان پوهيږي ،
چې د پانړيږ (مني) له ځيګره د خپلې فطري نرمۍ د کمات
چاره ډوډۍ وباسي
او بالآخره :
پسرلی د هغه موعود مسيح تمثال دی ، چې په خپل هر

راتګ سره د ځپلیو کاښتاتو په مړه کالبوت کې د امید ساه پوکوي .

خو !!!

دا هرڅه هله :

چې د کاښتاتو عناصرو ته چې (سیاسي اواجتماعي عواملو) د طبیعي ژوند ټهرولو حق ورکړي وي

چې د ستومانتوونکي ژوند د زوال او له منځه تلوعواملو ته لاس له مخکې دنه اواره شوي وي

چې د خورید لیو د تیاره برخلیک د روښانتولومثال په لاس مخکښ هم له خپل ملت نه د بېلتانه احساس ونه کړي

چې د « ولاتهنوا ولا .... » په ګاڼه سمباله ټولنه د خپل معبود « ذکر » وکړي ، چې پې ذکر وکړای شي .

چې د وېر له آسمانه د اور وریدنې بارانه نه یوازې د مقدس اجتماعي هدف له پاره سینې الله شي .

چې تر پټوپې په لوڅو کې د لذت پر احساس سربېره د مقاومت اوتینګار ماده پیاوړې وي

چې عاشقان پې پر دې مؤمن وي

چې :

« هنګامه د مینې ګرمه ده تر حسنه
د مجنون د درګدا شه لیلی مه شه . »

اسدالله «غضنفر»

ورک سپاهي

ددې شپېتم کال د ټوکې پېښه ډېره عجیبه وه . دا څوم کال دی چې روسان راغلي دي او غزا ده خو د آمو په غاړه باندې دې آباد کلي دې ته ورته واقعه نه ده لیدلې .

سحر وُ . څښو چای څښلی وُ او څښې لا د چای په څښلو لګیا وو چې د ټینکونو ژغ شو . د معمول پر خلاف ژغ د غرب له خوا راښکاره کیدو . پخوا به ټینکونه یوازې د سویل له لوري راتلل خو دا څل یې له لویدیز څخه آواز راتاوُ .

مجاهدین ورووتل ، لاړې یې ورته ونیولې او ورلنډ شول . مګر یوازې یو ټینک یې ولید چې په شګلنه مخکه کې سپرمخ ځي ، ظاهراً د کلي په خوا راځي خو عجیبه دا ده چې تنها راروان دی .

غازیانو ټینک محاصره کړ . محاصره اوږده نه شوه . څو شیبې وروسته ټینک ودریدو او له منځه یې یو سړی راووت . سړی کاسونه د تسلیم پورته ونیول او راکوز شو .

دېر ژر معلومه شوه چې سړي روسي دي . نه يوازې يې ستر ګې خړې او مخ سور وُ ، بلکه بالاپوش ، موزو ، خولې او نشانونو هم ښوولې چې د « نابلې مېلمنو » له ډلې څخه دي .

مجاهدينو وغيږه ، ټالاشي يې کړ او بيا يې ځمنې پوښتنې شروع کړې خو په هيڅ هم نه پوهيد .

مجاهد نورمحمد غسوار ټو کړل او ويې ويل : پوخ کافر دی ، دده په ژبه ماسوا له انجنيره بل څوک نه پوهيږي د ګروپ آمر له نورمحمد سره وپسنيدو په انجنير پسې يې ولېږو او په خپله د ټينګ منځ ته پورته شو . د ټينګ په منځ کې يې د داهشکې لېدلو د ټندي ګونځې ورپرانستلې او بيا يې روسي ته اشاره وکړه چې ټينګ ته راپورته شي . روسي په لاړې سم نه شو تلی ، پښې يې له وارخطايي پورېدې او خرکه سترګې يې له وېرې هرې خواته اړولې . دوو تنو مجاهدينو تر مرونده ونيولی وُ او ټينګ ته يې ورپورته کړ . ټينګ چالان شو او روسي سرې له درې تنو مجاهدينو په ټينګ کې وګاړل .

د پښې ځای ته ډېر ولس راټول شوی وُ ، ښځې بامونو ته ختلې وې او ماشومانو هم ځانونه راسولي وو .

ځينو خلکو مجاهدين وپوښتل چې ټينګ چېرته وګاړ ؟ خو هغو ځواب ورنکړ او ويې ويل چې ژر خواره شئ ، اوس به قوه راشي ټول به تباه شئ . د مجاهدينو په غوښتنه پرته له ځوانانو نور ټول کليوال کورونو ته وګاړل او د کيسې

د سپیناوي په انتظار کښېناستل .

تېنګ د شمال شرق په لورې روان ؤ ، تر څو چې سترګو کار ورکا ؤ نو کلیوالو د بامونو له سره ورته کتل خو وروسته د کانو د ځنګلونو په منځ کې ورک شو .

د ګروپ آمر او دوو نورو مجاهدینو روسي ټنه لاربښوونه کوله . تېنګ يې د آمو دریاب په غاړه د کانو په یوه لوی ځنګل کې ورښنوېست . هغوی خو ملرې په ځنګله کې پر مخ وکاږل خو آخر تېنګ په خټو کې ونښتو .

دوی خلور واړه له تېنګه راکوز شول . په تېنګ يې ډېرې خټې وتپلې او کاڼي يې د خټو پر سر واچول . چې له دې کاره فارغ شول د ځنګله له منځه راووتل . د ګروپ آمر خپل ځادر په یوه هسکه باندې چې غاټول پرې بوتېدلي وو وغوړا ؤ او خلور سره هغلته کښاستل . مجاهدینو په خپل منځ کې خبرې کولې خو روسی لکه څوک چې نه اروي او نه ژغېدی شي - پته خوله ناست ؤ او دوی نه يې حیران کتل .

یو ، یونیم ساعت وروسته د آمر څرګې شو . د ګروپ آمر يې له دې چې یوه بله خوا وګوري ، نارې کړې : دلته راشئ ! دلته ! .... آمر د دوی لوري ته راغی . نور مجاهد او ګلاب خان له آسه راکوز شول او د دوی خواته ورغلل .

ګلاب خان چې څو کاله د شبرغان ټپه تنحصاتو کې کار کړي دی او په روسي ژبه پوهیږي ، تکره مجاهد دی . مجاهدین هغه ته انجنیر صاحب وایي او چې ګله غنیمت پهلاس

راشي نو په وسلو او نورو شیانو باندې روسي لیکنې
وررته ترجمه کوي . نن هم د غنیمت ورځ ده . ژوندی
روسی داسې غنیمت ګڼي چې بې له ګلاب خانه بې څوکه په ګټه او
زیان نه پوهیدل .

ګلاب خان له روسي سره خبرې شروع کړې او وارله وار
بې ورته وویل :

نوره قـوه چـېرته ده ؟

قـوه ډیـره لېرې ده .

څومـره لېرې ده ؟

زه نه پوهـېږم . ما ګرده شپه مـزل کړی دی او په
تاشـقرغان کې مې قـوه شـاته پرې ایښې ده .

ته څنګه یوازې راغلی یې ؟

زه را تښتیدلی یـم . زه د ظلم مخالف یـم . زمونږ عـسکر
ظالمـان دي ، او زه هـېڅکله نه غـواړم چـې بې ګناه خلک
مـړه کـړم .

مجاهد نورمحمد دکلي له دوکانه د روسی دپاره اِل ، اِم
سګریټ او له خپله کوره پاسـتي او بـادام راوړي وو ، هغه
بې روسي ته ورکړل . انجنیر ، روسی پوه کړ چې مونږ
تاته څه نه وایو او اِل ، اِم سګریټ بې ورونبودل چې دا
امریکایي سګریټ دي ، دا وڅکوه چې طبعه دې راسته شي .

روسي دوه سګریټه سر په سر و څکول ، ساه بې لږ څسمه
شـوه او بیا بې خبرې شروع کړې :

زه د ظلم د بمن یم . زموږ سپاهیان ستاسو خلک بې ګناه وژني . د هغوی له ناکردو نه زما زړه چوي . زه.... زه ... انجنیر خبره ورغوڅه کړه ، وموسیدو او ورته یې وویل:

« چورت مه خرابوه ، موږ ته چې څوک پناه راوړي نو هغه ته بیا هیڅ نه وایو . ته بهني مه وهېره ، خپله کیسه کوه.»

روسی نور هم زړور شو. په ژغ کې یې پوښتنه ورک شوه او بیا یې خبرې شروع کړې :

« زه میجانیکل دنومېږم . د « کازان د بشار او سیدونکی یم . پنځه هفتې کېږي چې زموږ کنډک افغانستان ته راپورې وتی دی. څلور اونۍ مو د مزار شریف په بشار کې تېرې کړې خو بیا راته امر وشو چې تاشقرغان ته ولاړ شو .

مازدیګر وُ چې زموږ ټیلکونه تاشقرغان ته ورسیدل . شبرغان ته لاڅه لاړه پاتې وه . زه اول حیران شوم چې ولې ودرولو خو وروسته د توقف علت رامعلوم شو . د کلي له یوه باغه څخه کوم ماشوم زموږ د کنډک یو سپاهي په تیږه ویشتلی او سترګه یې ورپرنده کړې وه ، د کنډک قوماندان اناتولی امر وکړ چې دا باغ وولټ ، زموږ سپاهیانو کابو نیم ساعت په بن فیرونه وکړل خو د اناتولی زړه سوړ نه شو . بیا یې امر وکړ چې کلی محاصره کړئ او که هر څوک څنې راوتل هغه ووژنئ.

ماښام راولنده شو . خو له کلي څوک نه راووتل . نو اناتولی مخابره وکړه او د حفاظت دپاره یې نوره قوه راوغوښته. اناتولی عسکروته وویل : « داخلک تاسو نه ښېژني

ما دلته میاشتې تېرې کړې دي او د ډېر ښه پې پېژنم . تر
توري شپې پورې به هیڅوک هم زموږ مقابلې ته راونه وزي، خو
چې شپه شي بیا به د دوی بریدونه په موږ باندې وویني!»

ماښام راننه شو . لمر په غرغرو وُ چې دکلي لورته
راروانه ګورم راشوګنده شـــوه ، اناتولي په سپاهیانو باندې
ګورم وال او ګورم و وژل او بیا یې وویل چې د ټولو ښکونو
خولې دکلي لورته راوګرزوئ او ستر فیر کاندې یې ویښئ.
په دې وخت کې کنستانتین مونازوف» (زموږ دکنډک معاون)
اناتولي ته وویل چې : « ملګریه! یوازې د دوی وژل او د
کلي رنګول فایده نه لري ، راځئ چې پیسې او زیور ځنې پرسو
او بیا کلي رنګ کړو .» خو اناتولي ډېر په قهر وُ ، هغه
په ستغ آواز ځواب ورکړ چې : « موږ دلته دکمونیزم
د ښېرې دپاره راغلي یو، نه د پیسو د ټولولو دپاره .»

زموږ سپاهیانو ځلور ساعته په دې کوچني کلي مرمۍ
اوروله او باروت و وروله . زموږ دکنډک عسکرو په
کلیوالو د تېښتې ټولې کارې ستړې وې او چې کله د اناتولي
یقین راغی - چې اوس به ځوک ژوندی نه وي پاتې- نو
موږ ته یې دکلي د پلټلو او لوټلو اجازه راکړه . ده امر
وکړ چې هرشی که مو ژوندی ولیدل ویې وژئ، خو که
مو ژوندي انسانان ولیدل- څه مه ورته وایاست او
یوازې ترما پورې یې راولئ .

زه بد مرغه هم د پلټونکي دلې غړی وم . موږ له مړو

او رنګو کورونو ډېر وېرېدو خو له پېښې ټېښته نه وه.

هرکور مو جدا جدا ولید، ټول مړه وو. ما د لوړې ځل دپاره ډېر بد حال ولید، زه به ترمرګه پورې د شورۍ سپاهیانو داظلم هېر نه کړم. ما خوځایه د انسان غوښه ولیده چې له بدنونو راجلا شوې وه، او لا خوځیده، مګر داسې انسان مې ونه لیده چې هغه دې خوځیدلی وي.

یوځل د یوکور په غولي باندې تېر شو - چې زمکه لږ لږ ښوریده. چا وویل زلزله ده. خو د انا تولی پهشان بوسپاهي وویل چې دا زمکه وپلټئ، دلته څه شته. موږ لږ لږ خاورې راواړوله. یوه زهرخانه راڅرګنده شوه. د زهرخانې کاندې کسان وو. د انا تولی ملګري ناڅاپي کړې چې دا دی ژوندي مو ومویندل.

زه تر دې وخته پورې ښې ګنګس شوی وم. سم په ځان نه پوهیدم، نه شوم پوه چې تصور مې کاوه او که مې ریښتیا د یوه ماشوم ژغ واورېدو، چې چیغې یې کړې او په مور پورې یې ځان ټینګ وښیو.

زمونږ ملګرو داکسان راووېستل، زما پښې پوریدې زړه مې بد بد کیدو او چاته مې نه شو کتلی. هرهغوا د پرد ونکې وه. آسمان ته مې کتل. که څه هم د کلي دوړو آسمان ډېرصاف نه بنکارېدو، خو بیا هم په هغه زمکه او زمان کې د آسمان منظره غنیمت وه. ستوري په شنه آسمان کې ځلیدل او ما به داګومان کاوه چې دا ستوري د کنګل

عزونه دي . په زړه مې يخني ننوټې وه او بې سده يخني مې کيده .

په دې وخت کې د انانتولي فرمان راورسيدو، چې داکان بايد دده مخې ته ودرولو . انانتولي دېر سترې معلوميدو خو قهر يې لکه چې کم شوی وُ .

ده او ملګرو يې د ودکا بوتلونه په سر واړول او بيا يې د نيول شويو کسانو د وژلو امر وکړ . زه نيم وين نيم ويده يې حاله پروت وم . د تېنک له کړکې مې آسمان ته کتل او تېښتې په فکر کې وم .

سحرلا لمر نه وُ راختلی چې را ويښ شوم . بې سدی مې که شوې وه ، خو په سر مې دېر درد وُ . له تېنکه راکوز شوم او هغې خوا ته ولاړم چې شومدم مهال انانتولي او ملګرو يې شراب څښل .

د دوی د کړيو مخې ته د ولس مونې ايرې ورو ورو سحرنی باد خورولې او زه په دې پوه شوم چې نيول شوي کسان دولس تنه وو . »

ګلاب خان وژړل او پسرلنی پسته اور يې له اوښکو سره ګډه شوه .

قومانداد راولاړ شو ، او ويې ويل : روسی بايد سترمايه دارانه پټه وساتو ، او په تياره کې يې بايد د اورې « اشکمش » په لور روان کړو . که په کلي کې چا پوښتنه کوله نو ورته وايو بې چې روسی مو وواژه . ځکه

(پاتې په ۸۳ مخ)

محمود فاراني

وطن به آزاد کړم

زېړې مازیګر دی، د پسرلي وزمه چلیږي، په پراخه او خاموشه دښته کې چې د وزې له ښکې آواز څخه ښېرته بل غږ نه اوریدل کیږي، هلته لېرې یو سیوری د مازیګر په رڼا کې حرکت کوي. سیوری نژدې راځي.

د ایو مجاهد دی حمید دی چې د جهاد څخه موقتاً راګرزیدلی او د خپل کلي او کور خواته ځي خو دلته په دې دښته کې دیو ملګري دیدار ته راغلی چې لومړی هغه وګوري او بیا د کور خواته لاړه شي. حمید د دښتې په زړه کې یوې وچې وني ته ورسید. وني سوځیدلې وه. خو بیا هم د پسرلي په استقبال څو تنکه زرغونې پاڼې د هغې په ښکیو څانګو باندې شنې شوې وې، د وني لاندې یو باران وهلی قبر ؤ.

حمید د قبر خوا کې ودریده او سترګې یې د تورو خاورو د لیدلو سره په خاطرو پسې لاړې. په دې قبر کې یو ګډوان ویده ؤ سعید ؤ د حمید ورور ؤ او د هغه د ورکوتوالی او ځوانۍ خوږ ملګری ؟ د حمید په

ډ هن کې د خالمرو رستا خبز بالآخره هلته ورسید چې دوه میاشتې مخکې د همدغې وېلاندې حمید او سعید سره د شپږو تنو نورو مجاهدینو ناست وو چې لږ استراحت وکړي، ډوډۍ وخوري او خپل مزل د سنګر په خوا وو هي. چې ناڅاپه دد بنستې په آسمان کې یوهیلیکوپټر لکه یو تپوس راپیدا شو او د وېنې سرته چې راورسید دوه واړې وڅرخید او په درېم وار پې یو بم وغورزاو، له د غه بم سره درې تنه مجاهدین سخت ټپیان او سعید م ځای پرځای شهید شـو.

سعید د حمید کشر ورور ؤ او تازه پې واده کړې ؤ. د واده څلورمه ورځ وه چې اسرار پې وکـړ له حمید سره جهاد ته وکاږ شي او حمید ناچاره هغه له ځان سره راوست او همداغه ؤ چې په دې دښته کې شهید او د دې وېلاندې خښ کړای شـو. د حمید سترګې له اوښکو ډکې شـوې او د قبر خواته کښناست، سلاح پې د شهید ورور د قبر په خواکې کښوده او لاسونه پې د آسمان خواته پورته کړل.

لا مابنام نه ؤ چې حمید کلي ته ورسید. په کلي کې د پسرلي په راتګ پټې شـنه وو او په شـنو وښو باندې دانه دانه د پسرلي باران وریـده.

حمید دوه میاشتې چې د سعید سره د کلي نه ووت د کلي کوڅې د واورو څخه ډکې وې او په پټیو باندې یوه

سپینه برسټن غوړید پې وه.

حمید په خپلو خیالاتو کې ډوب ؤ چې د خپلې کلا دروازې ته ورسید او هلته یو دم د خیال څخه د واقعیت دنیا ته راغی، په ډیر تردد پې د دروازې حلقه وټکوله، دننه په کلا کې شریفه د حمید مېرمن د الان کې ناسته وه او خپل درې کلن زوی فرید پې ویده کاوه. زینب د سعید کونډې ټاوې په تنباره ډوډۍ پخوله. د دروازې له ټکې سره شریفه له خپل ځایه پا ځیده، خپل زوی پې په غېږ کې ونیو او ورمنده پې کړه. زینب چې کاسونه پې په وړو کلړو وو وکاږه شوه او په داسې حال کې چې د دروازې څواته پې کتل پې حرکته پاتې شوه. حمید را ننوت مګر ویوانې ؤ، د زینب سترګې په دروازه کې خښې وې خو لکه چې بل څوک نه ؤ او حمید دروازه په ځان پسې وتړله حمید خپلې مېرمنې ته وکتل او بیا پې د زینب خوا ته نظر واچاوه، نه پوهیده چې څه وایي؟ زینب پې له دې چې خبرې وکړي د تنباره په څنګ کې وکاږه وه د هغې ښکلې لوړې قامت ټول د سوال یو علامت ؤ، د زینب تورې او منتظرې سترګې د حمید تر خولې او سترګو ګرزیدې، حمید خپل ماشوم په غېږ کې ونیو او یوځه شیبه پې خپلې سترګې د هغه تر شا پټې کړې او ویې ویل:

سعید جوړ ؤ، سلام پې وایه .... زینب پوښتنه وکړه:

منو ولې رانغې؟

یو ضروري کار ورته پیدا شـو او له مجا هدینو سره یا ټي شـو .

مګر له دې خوا ب څخه یـواځې د مرګ کافوري بـوی د کلا په خاموشه فضا کې خپور شـو ، څو شیبې سکوت په ټولو خپور ؤ او کونـدې ناوې په نکریزو او وږورټیګو لاسونـو خپل مخ او تورې سترګې پټې کـړې چې څوک د هغې اوښکې ونـه ګوري .

●●●

اوس نـو نیمه شپه وه ، باران په شـدت سـره وریده او له ناوو څخه اوبه راتویـدې .

په کوټه کې دنـاوو او بارانـ د غوغا په منځ کـې یو وار د کلا دروازه په زوره ووهلې شوه ، د حمید میرمن له خپله ځایه راپاڅیده ،د کړکې خواته ولاړه او د کړکې نه یې بښکته نظر واچاوُ ، کوخـه د سپاهیانـو څخه ډکه وه .

حمید په خپل ځای بـا نـدې کښاست او پوښتنه یې وکړه : کاندې څوک دي ؟ شریفې خواب ورکړ : سپاهیان د رپې راغلي . د حمید په شـونـدو باندې د څنـدا یـوه تـرخه خپه راغله ،په یو حرکت له خپل ځای څخه پا څـید توپک یې د دیوال نـه راښکته کړ او د کړکې خواته لاړ .

په دې وخت کې بیا دروازه ټک ټک شـوه او حمید د کړکې نه غږ وکړ :

تفسیری از آیات قرآن حکیم

بسم الله الرحمن الرحیم

ولنبلونکم بشیء من الخوف والجوع و نقص من الأموال والأنفس والثمرات ط وبشر الصابرین الذین اذا اصابتهم مصیبة قالوا انا لله و انا الیه راجعون ٥ اولئک علیهم صلوات من ربهم و رحمة و اولئک هم المهتدون ٥

• ۱۵۷-البقره •

ترجمه :

و البته شما را باموری (چون) ترس، گرسنگی و زیان مالی و جانی و(کمبود) میوه ها بآزمائیم، و باستقامت کنندگان (در برابر این همه مشکلات) بشارت ده، آنانیکه چون ایشانرا مصیبتی رسد (بکمال صبر) گویند هرآئینه ما برآے خدائیم، و هرآئینه ما بسوی او رجوع کنندگانیم، بر این گروه الطاف و رحمت پروردگار شان است و ایشان راه یافته گان اند.

څوک یې ؟

لاندې یو پرچمی روسی صاحب منصب ته ورنژدې شو او ویې ویل : په خپله حمید دی .

او بیا یې په جګ آواز د حمید په ځواب کې وویل: یو واړې ولسوالۍ ته راشه ، ولسوال صاحب غوښتې یې، کلا هم ټوله محاصره ده .

د څه لنډې شیبې له پاره سکوت ښر قرار شو اویوازې د باران او دنا وو غږونه اوریدل کیدل .

بیا د حمید د آواز جګ شو : کوم ولسوال ؟کوم ولسوال؟ زه څوک په دې عنوان نه پیژنم.اوپه دغې جملې پسې یې په لوړ آواز وخندل ، پرچمی په دې وخت کې چیغه کړه: د کلا دروازې ته اور واچوئ !

حمید خپلې مرمنې ته وویل : ملګریه! ته هم خپل توپک را واخله .

په همدغه وخت زینب هم د خپلې کوټې څخه ووتله وښتان یې پریشان وو ، نوې له خوبه راپاڅیدلې وه ، او د سعید مشین ګن یې په سرو لاسونو کې وُ .

د کلا دلوې دروازې څخه زرینو لمبو په ختلو پیل وکړ او د باران قطرې په سره رینا کې ځلیدې ، د دروازې یوه درې ولویده او ورپسې پرچمي انګرته د شوتلو په عزم په دروازه کې پښه کښوده، مګر یو ګام یې لا نه وُ اخیستی چې د حمید د توپک غږ شو او پرچمی ولګیدّ او د اور په

منځ کې پرمخ ولوید

یو روسی مخکې شو چې د زخمي پرچمي سره مرسته وکړي مګر د حمید په دوهیم ټک سره روسی هم ولګیده او سم د پرچمي د سر د پاسه پرېوت، د روسی په لګیدو سره څو نفره نور روسان په منډه انګړ ته ننوتل، مګر د زینب ماشیندار هغوی ته امان ور نه کړ او لکه د مرغانو غوندې یو په بل باندې پرېوتل، دا وار ته دیو څو روسي کماندوګان چې لکه د غلو غوندې د کلا د شا څخه د پرو په ذریعه په دیوال باندې اوښتي ؤ ناڅاپه د انګړ په منځ کې راپیدا شول او په ټکو نو یې پیل وکړ .

د حمید ورکوتی څوی فرید چې له خوبه راپاڅیدلی ؤ او د مور شاته د کړ کې سره ولاړ ؤ چیغه وکړه او وویده مور یې مخ وګرزاوه او ویې ویل : آه ولګید !

مګر زینب د ورځې ماشوم انتقام د پر ژړا واخیست خپل وېښتان یې په یو حرکت له مخه ایسته کړل او د غلو کماندو ګانو خواته ورو ګرزیده او څو تنه یې په خاورو او وینو کې وغورزول . اوس نو نور روسانو چې ژوندي پاتې وو په تېښته شروع وکړه او د بارانو او خټو په منځ کې په منډو منډو د ولسوالۍ خواته لاړل چې نور قوه راولي .

حمید زینب او خپلې میرمن ته وویل : راځئ چې د

کلا نه ووزو چې تانکونه راځي . ټول د بالا خاڼې نه بنکته شول ، په انګړ کې څوک نه و یوازې د پرچمي او روسادنو مړي پراته وو ، حمید مخکې روان ؤ او توپک یې تیار یه لاس کې ؤ . د حمید میرمن په یو لاس خپل ماشوم او بل یې ته اچولی ؤ او په بل لاس یې توپک نیولی ؤ او زینب د ټولو شاته ماشیندار په لاس حرکت کاؤ د کلا دروازې ته لانه وو رسیدلي چې یوه روسي چې لا کاملاً نه ؤ مړ او د څنګدن په حالت کې ؤ خپل سر اړوند کړ او خپلې تمانچې سره یې د دغه ورځې کاروان په لور آخری ډز وکړ او بیرته یې سر کښود .

زینب ولګیده او په ماشیندار باندې ولوېده حمید بیرته وګرزید او د زینبې سر ته راغی ، د زینبې د چپ تې د څنګ څخه وینې خوټیدې ، حمید د هغې کوڅې ایسته کړې ، زینب سترګې پرانستې او په ډېر زحمت یې وویل : « حمیده ! ما سعید ته بوځه .... دلته مې مه پریږده » .

او د دې جملې د ویلو سره یې ساه والوته .

حمید زینب په اوږه واخیسته او په داسې حال کې چې لاړله پسې باران اوریده او د مونږ د ټاوو شور ؤ د خپل کور څخه صحرا ته ووتل .

• ● •

سهار شوی ؤ او د شفق سور او لوی څراغ په

(پاتې په ۴۵ مخ)

بورا

د ویر ودنو مابنام

هغه ژمي کا بله نخره کوله ، د اسې زورورې یخې یې د لسوده چې د سړې له زړه پورې وړې ختله ، د خلقیانو د یې جلبه اقتدار لومړنی ژمی وُ ، سړه به د وسره وو یانه خو ربنتیا خبره داده چې زړونه به ځای نه پرېږو .

د کابل بنار بنه الوتې وو ، پر شنه آسمان یې ډډ ویر او ماتم ټوټې وړیځې خورې وې ، زړونه ختلي وو ، په کار د چا زړه نه پرېوته . د بنار خړې منظرې د ویرونو اوږدونو ، ویرې او ویرنو ماتم تمثیلا وُ .

وحشت او وېرووېنې هنګامه حاکمه وه ، د خلې چوله کیدل وُ او په زندان شنو پستل . د خړې پله د ټوټو زندان د وبړې ګیلوې ډکیده نه وُ ، څومره انسانان به یې چې وراچول هغه یې تر سقو ني تېرول . بندېزونه وو او د یې مابې خلقیانو د پلیټو عقدونتشولې فرصت ؛ او د ذاتې اغراضو د پوړه کولو شیبې او د شخصي د بنمنیو د بدل موسم .

غوره خلق هغه وُ چې ډېر ووژل یې او د ډېرو راپورې ورکړې او زندانونه ټرې ډک ، او بیا په دې کې ډېر غوره هغه

ژ چې د خپلو نژدې خپلوانو ، ګاونډیانو راپور ورکړي او د دوستانو او آشنایانو .

هیواد ټول زندان ګرزیدلی ژ ، نه د ورځې بېګا کیده ژ او نه د شپې سبا کیدل . هیڅا م پر خپل ژوند باور او واډ نه درلود ، او هره لحظه یې د خپل سر له خطر سره مخ ګرزوله که دفتر ژ که کور د سړي سترګې به دروازې ته خټلې وې چې اوس به د وحشت ببرېدلې راځي او بې ګناه انسان به چې ته سیخوي . قلم ، قدم او خبرې هرڅه تر نظارت او څارنې لاندې ژ ، پلې وې او بهانې .

«صابر» م د هدغه وحشت او تیارو په غوبل کې د کمونیزم د وحشي جلادانو خونړیو منګولو ته ولوید ، هغه خوارکې د خلق پرچم د سفاکانه کودتا له پیله د خپل نوې خلق آمر چې مخکې د دفتر کاتب ژ او صابر ورسره څو څو واړه د کمونیزم د استعمارې او پراختیا غوښتنې ناولې سیاست د تذویر په باب مباحثې کړې وې او د بې بنده باریو له امله یې ګندلی ژ له دغه سخت تهدید سره مخامخ شو چې: « نور به په انقلابي روحیه کار کوې ، ارتجاعي فکر به دې له مغزو پریمینځې او که نه زموږ انقلاب !! او انقلابي دولت !!! په خپله مخه کې بخوانې او ارتجاعي فکرونه او عناصر نه شي زغملی او انقلابي برخورد ورسره کوې .»

صابر څه کړي وې ، د پرون یو بې سواده او بې بنده باره انسان نن د هغه د آمر په توګه د اداره واکه په لاس کې ژ

هغه حیران ؤ چې څنګه کیدی شي یوواړې بند بارہ او ملوث انسان دې مني د انقلاب !!! او انقلابي روحیې ادعا وکړي او بیا انقلاب او انقلابي روحیه د کمونیزم په قاموس کې ؟....

د خلقیانو په انقلابي روحیې خو هغه هیڅکله هم ځان نه شو عیارولی ، خلقیانوهم په هغه دیرفشار او رعب ورووست . «صابر» هم په وضعه بنه پوه ؤ . او مجبور ؤ هره نا دوده یې زغمله او په هره ناکرده یې صبر کاؤ. هغه له دیرا حتیاطه کار اخیست او هڅه یې کوله چې جزیي پلمه هم خلقیانو ته په لاس ورنه شي ، خو هغوی په پلمه پسې چیرته ګرزیدل ، هغوی خو د خپلې پلیټې مفکورې خلاف محض د چا موجودیت هم نه شي زغلی ، چې نړه به یې څنګه وغوښتل هاغې یې کول .

صابر حیران ؤ چې څه وکړي ، هره طرحه او نقشه به یې چې جوړه کړه د خپلې بیوډې مور ، میرمنې او یوه نړۍ او لور له هیلو ډکې ستړګې به ورته وځلیدې ، دا یوبل درونده بار ؤ چې د صابر پر اوږو یې زور اچولی ؤ او پر پښتو نرولې .

د هغه تاوچنې او وینولرو ورځو په یوه وړځ صابر هم لکه په زرګونو نور هیواد وال له دفتره کور ته راستون نه شو ، لومړۍ درې شپې یې داخله وزارت کې له بېګا متر سهاره تر وهلو ، ټکولو او مرق ورکولو کاندې تېرې کړې خو چې څه یې تري پوه نه کړل خلورمه شپه د جمعې «اکسا

د وحشي جلاد انو په لاس کښوت. هلته هم پرې د وهلو ټکولو، برق ورکولو ټولې وسې ختم کړې شوې، د هر ځل برق ورکولو ورځسته د مرګ له تمهید سره داورته تکرارېدله چې وویل: «چې د امریکا اوچین له خوا د انقلاب ضد ډلو سره رابطه لرم.» او چې صابر به انکار وکړ نو بیا به یې پرې راټوپ کړل، له یوې هفتې ورځسته د اکسا جلاد انو دا هرڅه ولیکل او د صابر له خوا یې دغه جعلي اعترافات واخیستل، صابر یې تر پای ستړی د څرخي پله ټوره او وحشتناکه زندان ته یووړ او هلته د پلیګون په کومې کې ورک.

پاته شول د صابر بوډۍ مور، میرمن او دوه اولادونه. پر هغوی هم د صابر له بندي کیدو سره د عایلاتو او آمدن د وازې بندې شوې، یو دوه میاشتې خو یې له بندیخانې د صابر د راخلاصیدو په امید او انتظار د زړه وینې خوړلې او د صابر د تضوا ګه په یو خو بچت روپګیو یې د مه مره مه رغېږه ګوزاره کوله.

او داسې یې خپله ورځسته د خیره یو چارګل اړدې ګوټې د پلورلو له پاره د زرګر مخې ته کښودې. خدای (ج) دې څوک نه اړ کوي، زرګر هم دېر واړول راواړل، کله به یې ویل داخالص زر نه دي، دا خراب زر دي او کله بل څه. ورځسته له دېرو نخرو یې په نیمه بیه له دېر احسان سره چارګل او ګوټې واخیستې.

د صابر مور او مېرمنې د جامو مینځلو اوګندلو ته ګوندې مانې کړې ، یو خو د صابر غم د هغه مور چې کلونه کلونه یې د خپل تیاره ژوند دیوازېنې اسرې « صابر » لپاره خواږه او مزدورۍ ګالې وې نوره له پښو غورزولې وه او د هغه ژمې ساره اویخنی لا یوبل مصیبت وُ چې په دغه غم لړلې کورنۍ یې خپل سیوری وغورزاوُ ، نورې هیڅ لاس خولې ته نه رسیده ، په سخت ژمي کې یې د صابر وړوکی زوی « نبیل » د څه خواږه مزدورۍ له پاره د یخو کوڅو او سړک غاړې ته ولېږه . له سهاره ترماښامه به یې په شښه سیوري کې د میو د کوچې له خرڅولو سره د زړه وینې خوږلې ، سهار به لا دوکانونه نه وو بېرته شوي چې وړوکی « نبیل » به د پیاده رو په غاړه د کوچې دېګ بارکړې وُ او په یستوي کیس کې به لوڅ سر په دوو پښو ناست وُ .

نبیل به هم سهار وختي د چندانولو له کږو وږو کوڅو د سړک په غاړه پیاده رو ته لاره لنډه کړه او د سکرو په بل منقل به یې د کوچې دېګ بار کې . او بیا به یې د هر لارويِ ستړګو ته کتل چې ګنې هغه به یې پر خواکښیږي او د کوچې خوراک ته به کښني ، په ډېرو کتو به یې زړه شین شو ، په کا کا ، ما ما به یې خوله وچه شوه .

نبیل هر لارۍ که ووېرې وُ که زوږې او که خوان په دغه

ته له نظره تېرول . کله کله به د سخت زړو او بې رحمه
ټرافيکو له ناوړه رويې سره مخ شـو چې ځينې وخت
به يې له يو دوو خپلړو سره د کوچې دبګ او منقل ټرافيک
د يوې لغتې سره په بل مخ ووايښتل. او نبيل به په
ژړا او سرو سترګو د خپلې تيارې او سړې جونګړې لاره
ونيوه ؛ او کله کله به د خلقيانو جبري مارشـونو او غورځـو-
پرځـو دهغه د خواږه مخه بنده کړه ، داسې چې زړياتره
وخت به د دغه ګشمکش په لړ کې د نبيل دبګ او هستې
د بدمستو خلقيانو په پښو کې ړنګ پيدا

د ورځې نبيل چه دې سترې او اړيانيو څه کيدې شوې
د مور او نيا دارو ، لرګې او تيل ، خوراکه که پوښاک ....
خو بيا يې هم له سهاره تر مابنامه د پياده رو لمن او د کوچې
د دبګ او منقل خواږينګ نيولې وه ، نه يې يخنۍ هغه ګرزولې
شـوې او نه واورې او بـاران .

« نبيل » به وږې ناست ؤ او د نورو خبرې به يې
ډکولې ، هغه به د شا و خوا د وکانونو د خوراکې مـوادو
او د مخ هوټل پر ورانده يې د کباب پخونه هريو تر
نظر تېر کړل او د بټو لاندې يې د هرڅه قياس کاوه .

که څه هم د ورځې « نبيل » پر اوږو وير درويد
بار زړه اچولی ؤ خو هغه به چې کله د سړک په منځ
او غاړو کې د لنډ غړه خلقيانو او ما شيني ضايطانـو
يې جلبه اقتدار او د عسکرې نقليه وسيلې يوه او بله خوا

ځغلیدل او په اوغپ ته کتل ، نو د زندانې پلار بې‌ګناه او معصومه ځوی به بې ښغه سترګو ته وډریده ، او له دې‌سره به بې د څرخې پله دتور او وحشتناک زندان خونړې پنجې او وسپنیزې دروازې د خیال په پرده کې وګرزیدې او له دې سره د انتقام اوکسات توپانی څپو په سر واخست . وروکې او پاکه زړه به بې په دغه هیله ټوپونه پیل کړل ، سپیڅلې وچې شونډې به بې ورپیدې ، غاښونه به بې یو له بله وچپچل سترګې به بې سرې شوې او اوښلې .

« نبیل » د ژمې درې ځلور میاشتې د سړک په غاړه د پیاده رو په مورګو په هدا سې ناوړه شرایطو کې د زړه وینې وخوړې ، د پسرلي باران په پرې تېر شول او د اوړې ګرمۍ هم پرې خولې وبیولې . او د هدغو خونړیو ورځو نه یوه ورځ چې « نبیل » د پیاده رو په غاړه په دوو پښو ناست ؤ او منقل بې پکه کاؤ د چنداولو کوڅې د میوند جادې په عمومي سړک د تکبیر نارې پورته شوې د چنداولو قیام د کابل بنار وحشتناک سکوت مات کړ ، د پولیسو ماموریت وسوزول شو ، ځانګړنه را ورسیدل ، سړک سره وینو پوښلې ؤ ، وحشي پولیسو له لارو اوکوڅو غریبکار تبنګ والا او نور بې ګناه انسانان راټولول او په موټرو کې بې اچول . د نبیل شلیدلې ګریوان ته هم د یوه سور سترګې ماشینی ضابط خونړې لاس اوږد شو ، دوه درې واړه خو بې په زمکه زمکه ووا هه او بیا بې د موټر

تفسیر :

ازمایش و امتحان ارادهٔ مرد مومن در ترس ، گرسنگی بی نوائی ، مرگ و عدم دسترس به تنعمات و لذایذ دنیوی به عمل می آید ازین حالات مختلف ازمون باید مرد مؤمن بگذرد و بهای عقیدهٔ را که دارد بکمال شکیبائی و صبر بپردازد . هرچه بیشتر در راه عقیده تحمل رنج وسختی نماید جوهر ایمانی شان به همان اندازه صیقل شده و به مقام والای بندگی واقعی و آنچه درخور شان بندگی است میرسد. عقیده- ایکه مفت و بی زحمت بچنگ آید به نخستین صدمه بی که باشان رسد از آن دست برمیدارد و همینگونه وقتی دیگران ببینند صاحبان عقیده به تمام آلام تن میدهند و از عقیده دست بردار نیستند با خود میگویند : اگر عقیده ایکه این گروه دارند گرانبها نبود هرگز باوجود این بلا هائیکه بایشان رسید برآن استوار نمی ماندند و این امر باعث الفت دیگران میگردد تا درین راه به جستجو پردازند و از حال دین آگاه گردند .

چرا خداوند آزمایش میکند ؟

این سوال برای بسیاری پیش می آید که ازمایش اصلاً بخاطر این است تا اشخاص ، یا چیزهای مبهم و ناشناخته را بشناسیم و بوسیلهٔ آزمایش نقاط تاریک و مبهم را روشن سازیم ، و از میزان جهل و نادانی خویش درمقابل شناخت اشخاص و آشیاء بکاهیم و مسلماً اگر هیچ نقطهٔ تاریکی وجود نداشته باشد اصلاً آزمایش مفهوم نداشته و ضرورتی بآن نیست . بنابراین

منځ ته واچاوُ .

هـو ! «نبيـل» د خپل پلار لاره و نيوده او په هغه پسې ورکې .

نيا او مور يې د چندا ولو نورو پې کوڅې وکتلې اوچيغې يې وکړې ، له ډيرو چيغو يې غږ ناست وُ .

د مابنام خوانه يې د نبيل چپه شوې منقل او دوه دري قاښونه د پياده رو په ډيوه او بله خوا کې وموندل ورته يې کړه ، يو دوه سپرمغې لا پکې ځليدل . منقل يې غږيې ته کړ او هداسې يې په خپله غږ کې د ډروکې نبيل په مينه ترکور داوښتو ، ډيرونو اوسلګو په بدرګه ورساوُ .

وطن به ... (د ۴۲ مخ پاتې)

افق کې ځليده چې حميد دوئ د سعيد قبر ته ورسيدل.

د شفق په سره رڼا کې حميد او ميرمن يې زينبه د سعيد په څنګ کې خاورو ته وسپارله او د حميد مېرمن يو څو ساراني غاښول د قبرونو په سر وشيندل او حميد ته يې وويل :«اوس نو سعيد يوازې نه دی».

حميد چوپ شو او بيا يې د آسمان خوا ته وکتل او ويې ويل :

« ستا په آښرو او د دې شهيدانو په وينو مې قسم چې مردانه انتقام به واخلم او وطن به آزاد کړم !»

لیکنه اوترجمه :
مرزا خیل پښتون

د روسیې دننه څه کیږي؟

یو روسي عالي سفارتکار آفسر « شیوچنکو » دروس نه فرار شو . ده په خپل یو کتاب « د روس نه تېښته » چې دغه وخت دطبع لاندې دی اوځه اقتباسات یې مجله « تایم » شایع کړې دي . د روس دخفیه ایجنسی K.G.B متعلق انتهایې مهم او هیبت خیزه انکشافات کړي دي . دغه کتاب وایي چې K.G.B د نړۍ انتهایې بې رحمه او سفاک تنظیم دی . د روسیې حکومت د خپل اولس دقابو ساتلو دپاره د دغه تنظیم په جاسوسانو تکیه کړې ده . د نړۍ وهیوادونو د عسکري رازونو تر لاسه کولو په لړ کې دغه تنظیم لګیا دی شپه او ورځ کارکوي . دغه تنظیم د نړۍ وهیوادونو د جدیدترینې ټکنالوجۍ د حاصلولو دپاره هم کوشښونه کوي . کوم حکومتونه چې روس یې په اپلولو کې ناکام شي ، نړۍ یا هغه د دغو حکومتونو د تخنیکي اړولو د سازشونو په فکر شي . د دغه مقصد تر لاسه کولو د پاره هغه یوخفیه ځواک تیار کړیدی ، چې پرته د روسي فوځ نه پکې د کرایې فوځ هم شامل دی .

د روس دغه عالي سفارتکار آفسر په خپل ذکر شوې

کتاب کې لیکلي دي چې په K.G.B کې یولک اعلی تربیه یافته جاسوسان شامل دي. علاوه ددې نه پخله لکه اعلی تربیه یافته فوځ هم لري، چې په جدید تربیه وسله، پانکونو او توپونو سمبال دی.

د دغه فوج وظیفه د سرحداتو د حفاظت سره سره د کریملین حفاظت هم دی. کریملین کې د روس کلیم اعلی افسران او د حکومت ذمه وار خلق اوسیږي همدلته د دوی دفترونه هم دي. د سرحداتو او کریملین د حفاظت سره سره دوی دغه فوځ د ملک دا هغو شخصیتونو حفاظت هم کوي

آرکیډي شیوچنکو

د هرڅه نه علاوه د دغه فوځ د تخریب کارو یوه یونټه هم شامله ده، چې د تخریبکاریو خاص تربیت ورکولی شي. دغه فوځ په شرقي اروپا اروپا کې د بغاوت چقولو دپاره استعمالولی شي. د K.G.B اعلی افسران د پې تاجه بادشاهانو په نامه یادیږي. د دوی کار د روسی عوامو په سر د یو مفاوت دی او د ملک دننه دهرې پیښې نه اعلی حاکمان خبروي. عجیبه داده چې دوی خپلو حاکمانو ته چې هم رښتیا راپور

نه پیش کوي . مقصد یې دا وي چې په دغه طریقه دوی په بجټ کې زیات نه زیات رقم مخصوص کړي او د خپلو ارکانو تعداد سپوا کړي . په ۱۹۶۲ع کې هرکله چې د روس وږو او برېښنو خلقو دوکانونه ولوټل ، نو حکومت د K.G.B مطالبې ومنلې .

اعلیٰ حکام هم د K.G.B له خوفه په لرزان دی - د دوی ټیلفونونه ټیپ کولې شی . د K.G.B ایجنټان د روس پولیټ بیورو د اراکینو سره د بدرګه (باډی ګارډ) شوفر ، باورچي او خدمتګارانو په څیر خدمات پای ته رسوي، چې په ظاهره خو د هغوی خدمت ګذار او محافظ وي ولې په حقیقت کې د هغوی جاسوسي کوي .

د کیوبا، بلغاریه او شرقي آلمان د جاسوسي تنظیمونو او K.G.B تر مینځه رابطه او تعلق دی - د بلغاریه ایجنټان د K.G.B خورا ډیر وفادار دي ، چې په جنوبي اروپا او شرقِ وسطیٰ کې یې خپلو سرګرمو ته دوام ورکړی دی - د بلغاریې ایجنټان په عربو او ترکو کې لګیا دي کارونه کوي . د بلغاریې د صدر او کمونسټ ګوند سربراه « تودور ژیوکوف » د لور « لامیلو » څخه د K . G . B افسرانو په دې وجه ناراضه وو چې د اکسفورډ دغه تعلیم یافته قهرمانې په ۱۹۷۰ کې د بلغاریې د اولس د اپارولو کونښښ کړی ؤ چې وروستو بیا د یوې سیاسي قهرمانې په توګه وپېژندلې شوه - ولې

نومورې د ۳۸ کلونو په عمر کې یوه ورځ مړه
بیا موندلې شوه.

د آرکیډی شیوچنکو د وینا مطابق دغه وخت په
نیویارک کې اووه سوه جاسوسان لګیا دي کارکوي. د
ده د بیان مطابق K.G.B ته چې په روس کې کوم حیثیت
او اهمیت حاصل دی، همغه دا دی چې د روس دغه تنظیم
پې انتها اختیارات لري- عن چې په دغه تنظیم
د میچا لاس برنه دی.

تفسیری از آیات ...

(بقیه از ٤٤)

که خدا (ج)، به مردان صابر کند یکی از مصادیق و نمونه های
رحمت است لذا رحمت خدا (ج)، بر صابران یکی است گرچه
به رنگها و قیافه های مختلف بروز کند.

اما صلوات خدا (ج) که همان نمونه های رحمت پې پایان
اوست متعدد و بلفظ جمع آورده شده در آخر آیه می فرماید:
« و اولئک هم المهتدون » و آنها تنها صابران
اند که هدایت شده اند.

در تعبیر «اولئک» به این معنی اشاره شده که راه
سعادتی را که همه بدنبال آن میگردند چون طریقی حد وسط
و در میان هزاران طرق منحرف که در حد افراط و تفریط
قرار دارند، قهراً پیدا کردن آن مشکل است، لذا قرآن مجید
درین جمله اشاره میکند که آن طریقی که همه درجستجوی آن
هستند طریق صابران و استقامت کنندگان در برابر حوادث است.

داکتر رؤف وردګ

روسان او افغاني لرغون پوهنه

پخپله کاله دمخه د سړي روسيې پښه د آمو ډنډ دې لور ته راوښوييده او زموږ د استقلال وروستۍ تښې ټنبانې د کريملينې استبداد د ظلمت په تيارو کې ورکې شوې.

پخپله کاله کيږي چې روسان ډنډ ټيوارې زموږ د خلکو په وژلو، بې وزله کولو او مهاجرولو لګيا دي، بلکه افغاني تمدن او تمدن په ټښتولو او محسوه کولو کې بې هم ټيوه شيبه غفلت نه دې کړې.

لکه څنګه چې څرګنده ده، افغانستان د تاريخ له ابتدا څخه د تهذيبونو او تمدنونو مرکز پاتې شوې دې او وروسته له هغه چې د اسلام د توحيدي دين په پلوشو منور شو، دنو د تل د پاره د اسلامي تمدن د غوړيدلو او روزلو ټاټوبي وګرزيد.

مغربي پوهنيال ټايم لي Taimle وايي: «افغانستان د تمدنونو ډ جذب او انتشاب نقطه ده». دا تمدنونه د تماس له لارې افغاني جامې کسب کړي، خپل کړي، غوړولي او بيا نورې د نيا ته رسولي دي. دا افغانستان د خاورې په لوښت-لوښتکې

کې د زړو تمدنونو آثارو او علایم لاس ته راځي او د هغو آثارو موجودیت څو چې د لرغونې پوهانو ډېره توجه په دې لور ته متوجه کړې وه . له نن څخه څو شپېته کاله پخوا په کال ۱۹۲۲ میلادی کې فرانسوي لرغون پېژندونکو د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې علمي پلټنې شروع کړې ، د فرانسې لرغون پوهانو څه کم شپېته کاله په مختلفو حوزو کې څېړنې او پلټنې وکړې . منجمله د بګرام ، سروکوتل ، بامیانو ، بلخ بغلان ، آي خانم ، هډې ، مندیګک ، شورتوغی (په سیستان کې) لښکري بازار او د کابل د خیرخانې او د مرښکان په غونډۍ کې پلټنې د یادونې وړ دي . د دې تحقیقاتو په نتیجه کې ډېر په زړه پورې آثار لاس ته راغلل او په علمي لحاظ ډېر پرابلمونه وسپرل شول .

هدا راز په تلرو ډېرشو کلونو کې د دنړۍ هېوادو هم زیات شمېر لرغون پېژندونکو د یادونې وړ څېړنې اوپلټنې وکړې . د رسمي تړونونو له مخې د امریکې، اوسید ع آلمان، جاپان برتانیې او وحشي روسیې د لرغون پوهانو هیئتونه افغانستان ته راغلل او د زړو مدنیتونو په باب یې نوي کشفیات وکړل .

له کال ۱۹۶۵ څخه راوړسته افغانی لرغون پېژندونکو چې په فرانسه ، ایټالیه او فدرال جرمني کې روزنه شوي وو له خارجې متخصصینو سره اوږه په اوږه کار شروع کړ. هدا راز په زړو قرارداد ونو تجدید نظر وشو او په نتیجه کې یې هېڅ خارجې هیئت داحق نه درلود چې افغاني آثار د

ملک څخه د بانديو يوې . افغاني او بانديني باستان شناسانو
د روسانو تر يرغل يوړې په افغانستان کې خپلو پلټنو ته
ادامه ورکړه .

خو کله چې د روسانو وبا ګډه شوه نو لرغون پېژندونکي
هم د دوی له شره په امان نه شول ، روسانو بانديني پوهان
د ارعاب او تهديد له لارې له افغانستان څخه وايستل او يا
چې نه وکارل نو بنديخانو ته يې کش کړل .

د کابل ګوډاګيانو د روسانو په امر داسې بهانه کوله
چې ګواکې خارجي پوهان او لرغون پېژندونکي د امپرياليزم
جاسوسان دي ، او پر دې بهانه يې د هغوی موجوديت
ته په افغانستان کې خاتمه ورکوله .

د بريتانيې د لرغون پوهنې هيئات په هکله خاد او دا خلي
کمونستانو ته وظيفه ورکړل شوه چې وېې ځوروي ، وېې ترتي او
په دې ډول يې خپلو ملګرو ته ولېږي . د روسانو د يرغل
په وخت صرف دوه ته بريتانوي لرغون پوهان په کابل کې
وو ، دوی چې په بنار کې خودسري ، بې امنيتي او وحشت
وليد نو خپل کلتوري مرکز او د استوګنې ځای يې د بريتانيا
سفارت وټاکه ترڅو له دې خوا د هيئات غړي او کلتوري
مرکز په امن کې وي او له بلې خوا د سفارت له کتابتون
څخه چې خورا ډير علمي کتابونه لري ، په آسانۍ سره
استفاده وکړي ، هيئات به د سفارت په محوطه کې پر
آثارو څېړنې او کر وېژنې کولې ، دوی د اکار د هغه

قرارداد له مخې کاوه کوم چې د دې هیئات سره لاسلیک شوی وُ د دې ترڅنګ یوه ماده مشعره وه چې لرغون پېژندونکي حق لري چې میندل شوي کلتوري او تاریخي آثار د خپلو مطالعاتو د پاره له ځانه سره وساتي او یا که ضرورت وُ کاپي او عکسونه یې واخلي او بعد له هغې چې تحقیقات مکمل کړي دا آثار بېرته افغاني لرغون پېژندنې مؤسسې ته سپاري. په قرارداد کې دا هم لیکل شوي وو چې د بهرنۍ هیئات سره بعد افغاني لرغون پېژندنې له مؤسسې څخه یو شمېر غړي د نمایندګانو په حیث لېږل کېږي کله چې په ساحه کې لرغوني کلتوري او تاریخي آثار موندنه شي؛ افغاني نمایندګان وظیفه لري چې دا آثار د مشخصاتو سره سم یادداشت کړي او خپل راپور په اصفو کې د لرغون پېژندنې مؤسسې ته واستوي او کله چې دکېندلو او څېړنو دوره خته شي؛ دهغې دورې آخري راپور او د موندل شوو آثارو لېست به په مجموعي توګه افغاني مؤسسې ته سپاري. د غه لېستونه هغه وخت په کاېږي چې بهرنۍ هیئات لوړي آثار افغان تسپاري. دېرنیو شرایطو او اصولو له مخې برتانوي هیئات دا آثار دسفارت محوطې ته نقل کړل.

کله چې روسان له دې کاره خبر شول بهانه پدلاس ورغله، دګودا ګیا نوخداغړیو ته یې امر ورکړ چې دبرتانوي هیئات دا کار خلاف قانون وګڼي.

د خادغړیو هم سمدستي د امر اطاعت وکړ او دبرتانوي

هیئت مشر بناغلی « پندل ولسن » یې وینو او آثار یې صادرات یعنې د خاد مرکز ته رانقل کړل .دهیئات ټول دفتر ،شخصی اثار او اسباب هم د خاد دفتر ته راوړل شول . هدارز د آثارو د خوندي کولو دپاره یو هیئت وټاکل شو چې راقم الحروف هم پکې وُ ، د آثار عبارت له مختلفو خاورینتو لوښو ، مجسمو سکو او داسې نورو آثار وو چې په هراړ د خپریدلو نه، ځای او تاریخ لیکل شوی وُ - د آثار دکندې هار د زاړه بنار دکښتلو په وخت کې برتانوي هیئات ته په کاس ورغلي ، او داصولو سره سم دوی ته د خپرنو دپاره سپارل شوي وو .

وروسته له تحقیق څخه معلومه شوه چې پندلولسن د څه دپاره، په څو کاله قید، محکوم شو ؟؟؟! څو څه وخت چې تیر شو نو ولسن وبنل شو او په دې ډول برتانوي هیئات ته له افغانستان څخه د فوري وتلو شرایط برابر شول .

هدارنګه لوبې د فرانسوي هیئات سره هم وشوې څو فرانسوي هیئات حتی الموقع زیار وبست چې په افغانستان کې څه موده نور هم پاتې شي ، هغوی نه منل چې خپل شپیته کاله زحمتونه په سین لاهو کړي - هیئات وویل چې موږ غواړو د آی خانم تاریخی آثار یو ځل بیا مطالعه کړو او خپلې وروستنۍ خپرنې باندې وکړو او دا یې هم وویل چې د کابل موزیم آثار باید په فنې توګه ترمیم کړو ، ځکه ځینې آثار چې خلقیانو ته په غیرفنې توګه

خدا (ج) که علم بی پایان او همه چیز را در برگرفته و از اسرار درون و بیرون همه کس و همه چیز آگاه است و غیب آسمان و زمین را میداند چرا امتحان میکند ؟ مگر چیزی بر او مخفی است که با امتحان آشکار شود .

پاسخ این سوال را باید در اینجا جستجو کرد که مفهوم آزمایش در مورد خداوند (ج) با آزمایش درمورد ما فرق بسیار دارد ، آزمایش خداوند (ج) در واقع برای پرورش و تربیت بشراست ، در قرآن مجید بیش از (۳۰) مورد امتحان به خدا (ج) نسبت داده شده است ، این یک قانون کلی و باصطلاح سنت دایمی است برای پرورش دادن (و ازقوه بفعل رسانیدن) استعدادهای نهفته . و مفهومی جز این برای امتحان خداوند (ج) نیست . یعنی همانطور که فولاد را برای استحکام در کوره میگذارند و باصطلاح آب میدهند ، آدمی را هم در کورهٔ حوادث گوناگون و مشکلات پرورش میدهند .

امتحان خداوند (ج) همان رویدادهای پیش‌بینی شده یا پیش بینی نشده ایست که گاهی دامنگیر انسان میشود ، وانسان را تحت فشار میگذارد که برای رهایی خود تصمیمات تازه ای بگیرد و نیروهای خود را بسیج کند .

و اگر همین محنه در دفعهٔ دوم برای او اتفاق افتد برای رهائی خود آمادگی بیشتری دارد و راه را صحیحتر از اول پیدا میکند و در هر صورت از خود آثاری بروز میدهد که معرف حقیقت اوست روحیات نهفتهٔ او جلوه میکند .

له موزیم څخه ایستلې وو او بیا پرچمیانو پرې لوبې کړې وې، د ضرورې ترمیم ور وو .

افغانې مقاماتو د فرانسوي هیئات غوښتنوته مثبت ځواب ورکړ خو کله چې روسان خبرشول نو افغاني مقامات پې ورووسته له تهدید او تادیبځخدې سته اړکړل چې خپله خبره بېرته واخلي او فرانسویانو ته منفي ځواب ورکړي.

د روسانو قهر یوازې د ټرون په فسخ کولو سره نه شو، سمدستي پې د خپلو نوکرانو په وسیله د فرانسویانو کلتوري مرکز وشاړه او د لرغون پېژندنې د مؤسسې او د خاد د غړیو له خوا هیئات ویټاکل شو چې کلتوري مرکز تلاشي کړي د تلاشۍ په نتیجه کې څه پېدا کاس ور نغلل خو هیئات ته ووېل شول چې له کابل څخه ووزي او په دې ډول سره د افغانستان باستاني آثارو ټوله شتمني د روسانو تر کنترول لاندې راغله .

په کابل کې یوازې روسي هیئات ته د او سېدو او کار کولو اجازه پاتې شوه . د روسي هیئات مشر «سریانیدی» په حقیقت کې زموږ د باستاني آثارو حقیقي خاوندې « سریانیدی» به د کابل په بنار کې ګرځیده او چې په کوم دوکان کې به پې یو داسې اشر ولیدو چې څه ارزښت لري نو د خاد غړو ته به پې د هغه اشر د ضبطولو امر صادر کړ، «سریانیدی» د کابل په دوکاندارانو سره ورځ راوسته وه .

دې هیئات کولای شو چې په خپله خوښه افغانې آثار شوروي ته نقل کړي ، د هلا يې غونډې د انان اسکلیټ يې م د خپل هدې حاکمیت په وجه شوروي ته بیوړ حال داچې په ټرونټونو او اصولو کې لیکلشوي دي چې هغه اشر بهر ته وړل کیدای شي چې په افغانستان کې يې د ترمیم امکان نه وي او د وزیرانو شورا يې خارج ته دموقتي لپاره دولو تصویب کړي وي . خو روسانو په هیڅ ډول د اصولو او ټرونو مراعات نه دی کړي او هرڅه په خپل سر کوي .

له ښکه مرغه د قهرمانو جاهدینو په توره د وطن ډېر ګوښتونه د روسانوله موجودیته پاک دي. او دوی نه شي کولای چه په خپله خوښه کښدې وکړي خو د کابل په بنار کې لا د روس پرچم دپاره د کار کولو زمینه ؛ شته د لرغون پېژندنې مؤسسه اوس - اوس صرف یو مرنجان غونډې کې (چې مخکې هم کا فی کښدې پکې شوي دي) کار کوي او بل د شهرارا ځلی ترمیموي .

د کابل څخه بهر په ټولو تاریخي حوزو باندې د مجاهدینو تسلط دی ، خو دا حوزې که له یوې خوا د روسانو له غلا څخه په امان دي نو د بلې خوا د دوی د وحشیانه بمبارد خطره ورته ډېره متوجه ده .

زما د جهاد ابتدا

دلته تاسو د بنا غلی عبدالغفور اخوند زاده د غزا ابتدايي حالات او سرگذشت لولئ

محترم اخوندزاده صاحب د فاریاب ولایت د شیرین تگاو د ولسوالۍ اوسیدونکی دي چې د الحاد نظام له ابتدا څخه په افغانستان کې د غزا په فکر کې لوید لی دی او بیاېي تو پک اخیستی په عملی جهاد پې لاس پورې کړی دی . دده د مجاهدې ذکرلوی داستان اوخورا اوږده کیسه ده خو ما د نومورې د جهاد ابتدايي حالات دهغه له خولې لیکلي او خوندي کړې دی .

"چشتی"

عبدالغفور اخوندزاده چې ښه په واک سړی دی ، ښه صورت او غښتلې روحیه لري ، د غیرت او مېرانې تاوېدلې جذبات ژوندي ساتلي او په پوخ عمرېې پوخ مجاهد ځنې جوړ کړی دی .

د وایي چې کله خلقی حکومت او د دوی حال ولید نو په زړه مې د انتقام لمبې بلې شوې او له نژدی ملګرو سره مې تل دا خواله و چې آخر څه به کوو ؟

د مجاهدې شوق د سفر ذوق را وبانده او دکندز د سفر

ښت مې وکړ . خلکو به ویل چې انجنیر حکمتیار چې دکندز دی، منظم جهاد پیل کړې دی او دا زما لویه ارزوه وه چې په منظم جهاد کې برخه واخلم .

له کوره (چې په شیرین تګاو کې وُ) د میمنې خوا ته راهي شوم . په میمنه کې د علاؤالدین غیرت په نامه یوې چې د هر خلاک ، خوله ور ، زیرک او د خلقیانو فعال راپورچې وُ ، زما مخې ته ودریده ، روغبړ یې راسره وکړ، او ما هم ښه پوښته ورسره وکړه او دې مې پر دې و نه پوهاوه چې گواکې زه یې په هغه لوغړ او خطرناک نامه چې جاسوس دی ، پیژنم . په سماوار کې کښاسته ، یو ځای مو چای و څښل ، د کور ـ کلي پوښته ..گوښه مو سره وکړه او بیا راولاړ شوم او رخصت مې وُغښت واخیست .

اخوندزاده صاحب وایي چې زه په میمنه کې د مزار شریف سرای ته ولاړم ، زه لا د مزار په موټر کې نه وم سپور شوی چې علاؤالدین غیرت بیا نېغ راته ودریدو او ویې ویل : ها اخوندزاده صاحب ! چېرته ځې ؟ په ځواب کې مې ورته وویل چې خان آباد ته ځم . هغه بیا و پوښتله چې هلته څه کوې ؟ ما ورته وویې چې یو موټر وریږي راوړم . ده وویل : دا خو ښه کار دی، ما ته به هم څه وریږي راوړې . ما ورته وویې : په دواړو سترګو . ده د پیسو راته وویل ، خو ما ورته و ویل چې کله وریږي راوړم او تر تول یې تېرې کړې نو هاله به پیسې راکړې . ده

راسره ومنله او را څخه وکاږه . څوګامه يې لا نه وواخيستي چې مخ يې راواړاوُ او ويې پوښتل : اخوند زاده صاحب جوالونه دې چېرته دي ؟ زما په خوله داخبره راغله چې ما خو دوه مياشتې د مخه وريجې اخيستي دي او تيارې يې جوالونو کې پرېښې دي - يوازې راوړل غواړي - چې څنګه وتوانېږم يې خير به يې راباروکړم . دې شيبه-نيمه فکر يووړ او بيا يې راته وويل : دېره ښه ده ، خداۀ پامان .

د کال ۱۳۵۷ د لړم اوله ورځ وه چې زه د مزار په لور روهي شوم . په مزار کې د « باردين » په سرای کوزشوم دا سرای د موټرو د تګ-راتګ مرکز او تمځای وُ . يوه سماوار ته د چای څښلو په غرض ولاړم . د لته يو په ونه جګ نری ، زېرې-زېپلی سړی راپيدا شو چې د شيطان نه شهرت يې په ټوله سيمه کې خپور دی - دا سړی محمدالياس نومېدو او ملقب يې « نريچې »وُ . ده به د خلقيانو د پاره شپه وړځ دځکه جاسوسي کوله او له لږې يې له شيطنته دکې ستړې يه ما خبې وې - په چنګه راالنده شو - سلام يې راواچاوُ ، کاس يې راکړ ، روغبړ مو سره وکړ ، او راته يې وويل چې خنګه راغلی يې ، چېرته ځې ؟؟ ما ورته ووې چې په وريجو پسې خان آباد ته ځم . زه وروسته له ساه سمولو د کندز په موټرونو کې سپور شوم . چې پلخمری ته راورسيدو ، نو موټرلږغه تم شو ، ځينې سوارلی کوز شول او نور راوختل . موټر بيا د بغلان په لور روان شو ، شاوخوا مو د هر موټران

تېريدل-راتېريدل ، چې د بغلان « جرخشک » ته راورسيدو نو موټر مو ودريدو-په سړک مارش وُ .

يو نفري پک سړی چې آفت ، صاحب يې باله او د بغلان والی وُ ، په خبرو لګيا وُ - نور خلقيان هم وار په وار په ستړيج درېدل او ويناوې يې کولې ، په هره خبره به يې لاسونه پرقول او په داسې حال کې چې د يو-بل لاسونه به يې نيولي وو ، هوراوې ويلې ، سوارانه مجبور وو چې د دوی سيل ته ټم شي او موټرونه يې سفر ته نه پرېښودل. د دوی له منځه يوه پښتانه هم راپورته شوه ، په ستړيج ودريده او ويې ويل : زمونږ رهبر نورمحمد تره کی وايي چې خوک په خلقي خصلت بنايسته شي-بيا نو په خپل ځای کې د هرشي واکدار دی او هرڅه يې چې زړه غواړي بايد د انقلاب په ګټه يې ترسره کړي .

اخوندزاده صاحب وايي چې دا رنګه خبرو د پرحيران کړم او ترهغو پورې چې موټرونو د تګ اجازه موندله د دوی په تماشه بوخت وم .

ما سخونټ وُ چې زمونږ موټر د کندز بنسار ته راورسيد - شپه مې په يوه کافي کې سبا کړه او د شناختو په لټه کې شوم . دوستانو ته مې حال وواياه او منجله يوه راته وويل چې ورورې ! خوک چې غواړې اوس يې په کندز کې نه شې موندلی ، خو زه به يو بل خوک دروښيم . ما ورته وويل : هسې يې-راښيه چې زړه

مې اور واخيست . ده راته وويل چې د خان آباد ورځپاڼه په «خپل زيو» کې مولوي اميرګل ته ورشه - د حرکت دنمايندګۍ (مولوي عبدالحي) معاون دی .

سحر د وخته راويښ شوم - لمونځ اودس مې وکړل چای مې وڅښل او دکندن د چوک په لور راروان شوم له شاوخوا څخه خلک د چوک لور ته رابهيدل - ما له چا وپوښتل چې داخلک څه ته راتولیږي ؟ په ځواب کې يې راته وويل چې د شرکت (مطلب يې سپين زر شرکت وُ) خواته وګورو - ما د شرکت له خوا مامورين او ځينې نور مجبور کسان وليدل چې سره بيرغونه يې په لاسونو کې دي، دهورا نارې وهي او د چوک په لور راځي . وروسته له دې چې ټول چوک ته راورسيدل - يو تور بريښتی، دنګ سړی سټيج ته پورته شو . خلکو وويل چې دا صحرايي دی . په کنډ هاريې لهجه يې غږيده و - ده هم د نورو ښويدلو خلقيانو په څير خبرې کولې - ويل يې چې : موږ لازواله انقلاب راوستی دی، نور به يوازې موږ يو، اوفيودالان مرتجعين او د انقلاب دښمنان به يې له مرينې بله لار نلري. هغوی به مري . او لاسونه وپرې قيدل .... ما له ځان سره «لاحول» ووويل او په دې اړو دوړو کې څو ساعته د خان آباد له تګه پاتې شوم .

آخر مې له دې غوښمنده د وتلو اراده وکړه چې ګورم نر بچي بيا ځان را رسولی دی - ما هغه وليده خو هغه

زه و نه ليدم ، او زه ژر ژر د خان آباد د بند ر لوری ته روان شوم . په کندز کې حکومت نه يوازې د ټولو کرايې موټرو بلکه د کورونو ورونه هم په خلکو سره کړي وو - سره ورځ چې وه او دا سور والی لکه ارغی په سترګو را چخيدو .

لنډه يې داچې د خان آباد په موټر کې کښاستم - خان آباد ته ورسيدم او له هغه ځايه بيا د تالقان په موټر کې سپور شوم - د خين زيو په کلي کې له موټره راکوز شوم مولوی امير گل او ځينې نور ملگري مې پيدا کړل . ما ته خپل غرض ټوه کړ - هغه مې هم د تذکرې نمبر ، نوم ، ولد او شهرت له ځانه سره ثبت کړل - د ارتباط ځايونه مې ورو ښودل - کارت يې راکړ او د عضويت د تاپې مهر يې هم راکړ او راته يې وويل چې بيا به يې په صابون کې حک کوې .

خپل مطلب ته خو رسيدلی وم مگر د نرښچې رايادیدا به مې فکر خرابه کړ . په دې منځ کې کتاب خان موټروان چې خورا فداکاره دوست وُ هم راپيدا شو - له يوې خوا بلې خوا غږيدو او په آخر کې مې يې اختياره د نرښچې کيسه ورته ټينه کړه . کتاب خان چې مبتکر سړي دی ، يې له ځانه يې راته وويل : دا مشکل به دې زه حل کړم - خوجواله تيارې وريځې لرم چې ميمنې ته يې وړم - زه به مندهې ته ورشم - کله چې تاسو هلته راشئ نو له لرې به په تا

ژغ وکړم چې ستا وریجې خو مې په پلا ني نمبر موټر کې پرون دراستولې دي. اوته به وواړې چې څوجواله وریجې دې نورې هم راکړې وای. بیا به دغه څو جواله وریجې نورې هم په بل موټر کې پسې واچوم او د موټر نمبر به درکړم.

زه او کتاب خان دواړه ورروسته له سلا-مشورې له څېنزیو راووتو او په موټر کې مخ په خان آباد رهي شو، کله چې د منډهي له څنګه له موټره کوز شو، کتاب خان دمنډهي لاره ونیوه او ما نورې ولیدې چې مخ ماته راروان دی اوورروسته له سلامه پې راته وویل: اخوندزاده صاحب! څنګه شو وریجې دې چېرته دي؟ ما ورته وویل: زه خودخپل معامله دان کور نه ورغلم، هغه په کور کې نه وُ اوس راغلم چې که په منډهي کې پې ومومم. ما او ده دواړو چای وڅښل او بیا د منډهي په لور وخوځیدو. کله چې په منډهي ورننوتو، نو کتاب خان ژغ راباندې وکړ:

هاورورہ! شکر دی چې په خیر دې ویمۍ - زه نه یم درته ناغه، پرون مې ستا یو موټر وریجې په فلاني نمبر موټر کې دراستولې. که څه هم تا نټولې پسې لانه وې راسولې. ماورته وویل چې نورې وریجې مې هم په کار دي. ده راته وویل چې دا څو جواله وریجې نورې هم تیارې لرم، بسه وریجه ده، دا به هم په دغه موټر کې دراواچوم او بارجامه پې ببرته راولېږه. هغه ورې پې په موټر کې واچولې او د موټر نمبر مې ماته راکړ.

نر پنچي ته هيڅ شک ورپاتې نه شـو ، په کنـدز کې راڅخه جلا شـو او خداى پامانې مو سـره وکـړه. خـو مايې لا څار کاوُ ، ترهغه مې تعقيب کـړ چې د مزار په موټرو کې سپور شـو . زه يوې کافې دتـه ورپورته شـوم او دوديځ مې راوغوښته .

له څه ځنډه وروسته د بغلان په موټر کې سپور شوم . د بغلان د «کوک چنار» په «قيصرخيلو» کې زما پخوانې دوست حاجي عبدالروف خان (حاجي صاحب په يوشپيتم کال کې د بنګې د پله ځنګ ته له ميراحمد خان قوماندان سره يو ځاى دروسانو له خوا شهيد کراى شـو .) ورسيدو . زه د هغه د ليدلو د پاره د هغوى کلي ته ورغلم . د حاجي صاحب سـره مې د منظم جهاد په هکله د پرې خبرې وکړې او د صحبت په پاى کې مې وعده ورکړه چې په لنډ وخت کې به بيا سره وينو .

له بغلانه مزار او له هغه ځايه ښې ميمنې ته ولاړم ، په ميمنه کې مې هغه د وريځو ډيوړ او دوکاندار سـره مخامخ کړل او د موټر چلوونکي ته مې وويل چې وريځې به دې دوکاندار ته ورکوې .

نور نو په ميمنه کې تم نه شوم ، له ميمنې ښې ولاړم خپل کور کلي ته .

در واقع امتحان خدا (ج) بکبا غبانی پر تجربه شبیه است که دانه های مستعد را در زمین های آماده می پاشد ، این دانه ها از مواهب طبیعی به نمو و رشد شروع میکند، تدریجاً با مشکلات میجنگد و با حوادث پیکار میکند ، در برابر طوفانهای سخت ، سرمای کشنده و گرمای سوزان ایستادگی بخرج میدهد و بعد از طی این راه پر مشکلات آن دانه ها شاخه گل زیبا یا درخت تنومند پر ثمر میگردد .

اگر آزمایش الهی (ج) نبود استعداد ها به فعالیت نمیرسید و اعمالیکه مقیاس پاداش و کیفر است ظاهر نمیشد زیرا تنها به صفات درونی و استعداد ها نمیتوان پاداش داد بلکه باید این صفات و کیفیات و استعداد ها بروز و ظهور پیدا کنند تا مستحق ثواب و عقاب شوند .

آزمایش خداوند علیم (ج) عمومیت دارد ، از آنجا که نظام جهان هستی نظام تکامل و پرورش است و تمام موجودات مسیر تکامل را می پیمایند حتی درختان استعداد های نهفتهٔ خود را با میوه دادن بروز میدهند ، کوه ها استعدادات خود را توسط معدنهای گوناگون نمایان میسازند ، همه مردم نیز از انبیاء گرفته تا فرد عادی انسان طبق این قانون عمومی می بایست آزمایش شوند و استعدادهای خود را ظاهر سازند .

گرچه امتحانات الهی (ج) متفاوت است : بعضی مشکل بعضی آسان و قهراً نتایج آنها هم فرق دارد ، اما به هرحال آزمایش

لنډی

ته د الله (ج) په دین مین یې
ملایئکې به دې کومک لره راځیني
ته دې غزا کوه جانانه !

زه به سور چلې ته د وډې درخیژومه
و رځم، و رځم ځان به شهید کړم
د یې ننګه ژوندون مې خوښ نه دی مینه
شهیدان وار په تل ژوندي دي

مړه خو هغه دي چې د روس په ځنګ کې مړینه
غاز یادنو ګوري په شا نه شئ !

پښتني پېغلې مو په ځنګ ولاړې دینه
سبا به بیا تانګونه راشي

د روس له مړو به دلې و درومه
وطن شهید په وینو سور شو
لکه غاښتول چې پسرلي سپرلی وینه
جانان مې بیا توپک را واخیست

ګومان مې کیږي شوروي یان مړ ازوینه

بې پته ژوند مې په کار نه دی
د پت په ژوند کې که مرګ وي، مړ دې شه

رالیږونکی : ذ بیح الله عطائي

افغانه ! تورہ ستا منصب دی
د انور عالم چې لا پې کړې خندا راځینه
کابله ! ستا په مینه مست یم
که ستا په مینه مې سر ځي، لو یې پرې کړه
کابله ! زهري مې دریاندې
ټول افغانان دې په نامه، سر ورکوینه
کابل مې بن دی د سر و ګلو
زه یې بلبل، د ګل په بن، منارې و هـــمه
ته په کابل کې ځان شهید کړه
زه بـه خولګې او زلفې تالـــره ســـا تمه
ته په کابل کې ځان شهید کړه
زه به خپل شـال ستا په زیارت وغوړوم
که له کابله کامیاب راغلې
د انور وربل به له ستا جار کړمه مینه
کابل نړما د تن جامه ده
د تن جامه به لکه ګل غونډې سا تمه.

رالیږونکی : محمد حسن زاهد (ایف ، اس ، سی
میډیکل کالج) پښتې ټولنې د اګ

د روس په ټینګ مې پروا نشته
زه چې بنسایسته راکټ په څنګه کې ګرزومه
ربه دتا د لاس شهید شم
چې جاهد مې په خپل لاس د فن کوینه
اول غازي بیا مې شهید کړې
زخمي مې مه کړې د توپو مې بد راځینه
د تره مې داسې شهادت ؤ
چې د سرو وینو یې د عطر وبوی را ځونه
د زړه ټوټه مې خدای ته ورکړه
خفه پرې نه یم امانت د هغه وو دنـــه
قربان دې شم یوولس یې زیه !
چې دې روسیانو باندې پکه کړل دوزخونه
په سرو روسیانو مه نازیږئ !
هریو فرعون ته خدای مویې پیدا کوینه
د دنګو غرو خواوڼان خبر کړئ !
چې بناري نجونه په وطن سر ورکوینه
ناهیدې دامې ناري وکړه
وروڼو راپا څئ چې وطـــن آزادوینه
وروڼو جان مې لاړو جاهد شو
د لویو غرو زمریان یې مخې ته راځینه
مخامخ پنغ ورځه شـا نه کړې !
روسي مرمۍ په افغان نه کړي تاثیرونه

په پښور خوشاله اوسه !
په موږ پرانته دې د بمو سپرده ګردونه
د شهید وینه سیلابي ده
هره ذره يې د توپانونه جوړ وینه
ته د اسلام په ننګ شهید شې !
چې مجاهد دې په نامه فخر کوینه

رالیږونکی : محمد اجمیل سعادت
د حصارک د غونډ مجاهد

ولې به نه ژاړمه خدایه !
چې مو تې خوري د برچو په خوکو مرینه
خاونده دا به ستا رضا وه
چې له وطن څخه سردتوره و وتمه
د غاښتول ګله ! باران څه کړي ؟
روسیانو جوړ دی د سرو وینو بارانونه
دا بخارا نه ده ببرکه !
چې ستا روسان به غټې خښتې ګرزوینه

رالیږونکی : نصرالله اند ړ
د غزنۍ د شلګر مجاهد

ح ، رفيع

د چرنينکو مرينه

خپل مرکې ده په روسيه کې لکه‌دلې
لوی خراسان پې سر په سرې کال په کال مړې
عجيبه ده ټول ژوند چاودي ځې له تخته
د افغان د ارادې په پاڅه ډال مړي

اورو « يې » کله پې بل مشر مړدار دی
چې کوښه شي ورپسې پې د مرګ واړدی
کودتا د کمونيزم هم اسرار وي
په هسکو کې روان جنګ د اقتدار دی

چرينکو ؤ اندروپف ګورته ليږلی
اقتدار د کې ، بې ، ی پې ؤ رښتلی
خو زوړ ټين پې لکه مړه رانسکور کړ
ګربه چوف لکه ګربه ؤ ورته غلی

د تاریخ غبرگون

د ۱۳۵۹ کال د ثور میاشت له روسي وحشي بنکیلاک سره، د کابل بنسټ په واټونو کې د خوانانو او پېغلو د روشنفکري پاڅون میاشت وه، دوي په تش لاس او مړانه، په ریښتا وړځ د روسانو په لښکرو راووتل او له روسي بنکیلاکګرو سره لاس او ګریوان شول. لاندې کیسه د دې میاشتې د پاڅون یوه تاریخي حماسه ده چې د «آسه مایي» د تاریخي غږه په لمنه کې د «جوی شېر» د ویالې په غاړه پېښه شوې او د تاریخ په زړه کې به تل خوندي وي او موږ یې د دې لنډې مثنوي په کالب کې د لټه ولېندې کړو.

(په مینه)
«یون»

دیوه کیسه ده حماسه ده
د افغانۍ قهرمانۍ!

را روان ؤ لوی توپان ؤ
د ځوانانو د پښغلانو
د هنتون ؤ په پاڅون ؤ
په کابل کې سهارمل کې
پورته غږ ؤ دا یو څوږ ؤ:
« مړه روسان شه مړه خلقیان شه!
روس دې دروي زموږ له سیمې
روس دښمن دی روس میرځمن دی
روس نه غواړو روس نه غواړو
آزادي ته ځپلواکي ته
به رسیږو و نه ستنیږو!»
په دې چیغو په دې کریغو
راتلل بشارته « زرنګار » ته
څو هجوم کړي روس محکوم کړي!
دې بهیر ته « جوی شیر » ته
روس تېښتکوونه او ټوجوونه
ورچمتو کړل سپي یې توکړل
په ځوانانو په پښغلانو
ورحمله شوه دربله شوه
د ګولیو په ژلیو
توپیدونه ژلې ، ټغجونه

څوکسادنو څوځوانانو
کړې مندې له دې غوندې
غړه ته تلنه تښتید نه
خو یوې ځوانې فهرمانې
ورته غږ کړ حبورې ځوبکړ:
„څه کړئ تښتئ ځان نه پوښتئ:
چې ژوند څه دی؟ چې خوند څه دی؟
(ژوند خلواک وي) که پې واک وي
ژوندون نه دی مرګ تري ښه دی!»
په دې چیغه په دې کریغه
دوی په تپښته پرېښوه تښته
حمله ور شول سینه سپر شول
مردکو ته توپکو ته!
هر تري مرګ شو د تاریخ غبرګ شو
د ملالې ببې مثالې!
احترام دی! صد سلام دی!
دې میدان ته! دې ایمان ته!

د افغانې
قهرمانې!

«یون»

۱۳۶۳ ، ۱۱ ، ۱۲

پسرلی

بیا بهاردی

•

بیا بهاردی چې بهار کړه بنسایسته پکتیادنا هیر ه
که پنه دې لوی مصیبت کې شوه له ستر ګونښکلا هیره؟

د توپونو پـه درزې چې د راده غنګر شـــوه غلې
څنګه ســوي بـن کې نه شي له بلبلو نوا هـیره؟

د غـوټیـو تکو شـونډو هم د غم پـــټې نیولې
نوبهار دی خو ګلونو کړه لطیفه موسـکا هیره

غرونه ســوي ـ د من ســوی، کلي ســوي ـ چمن ســوی
خالي ورکې کړې مرغیـو، او هوســیـو صحرا هیره

د تانکونو تر پښـو لاندې، وابنـه ســرمنډې په مخکه
د بمونو پـه بـاران کې یې کړه، نشـو نـمـا هیره

د ګازونو ، د بمبارونو، یا د وینو بوی به راوړي
د ګلونو خوشبویي شوه د پسرلي له هوا هیره

د مرمیو په باران کې ، د تانکونو په توفان کې
سرود هیر شکاري له زاپو شوه له بطوغوغاهیره

د افغان بچي له زړه د پاڅ مینه وینه وځي
زړه مینه ګه وحشت کړه، له پتنګ او بورا هیره

انسان پریږده ، د روسانو د وحشت په نتارو کې
ګرد ابونو اتن پرپښود ، بورپښوکې کړه غټا هیره

هر نظر دی سپل د اوښکو، هر نفس یو اسویلی دی
اوښکې وتمیدې زړه مته ، شوه له سترګو ژړا هیره

په هر لور په هره سیمه ، هره ورځ یو قتل عام وي
چې آزاد جهان کړه څنګه ، د « صبرا، شتیلا » هیره

ای بهاره ! ای بهاره ! څوک به ځاري دریته لاړه ؟
د بمونو په درزا کې،لاړه مه شه له ما هیره

برای همه است ، قرآن مجید به امتحان عمومی انسان ها اشاره کرده می فرماید :

«احسب الناس ان یترکوا أن یقولوا امنا و هم لا یفتنون ٥»

« آیا مردم گمان میکنند بدون امتحان به (ادعای) اینکه گویند ایمان آورده ایم گذاشته میشوند .» نه بلکه همه باید امتحان دهند .

از امتحان پیغمبران چنین یاد میکنند :

« و اذابتلی ابراهیم ربه » « و آنگاه که خداوند ابراهیم را امتحان کرد » .

در آیهٔ متبرکه نمونهٔ از اموری که انسان با آنها امتحان میشود بیان شده از قبیل ترس ، گرسنگی ، زیانهای مالی و مرگ .... ولی از مایش خداوند (ج) منحصر باینها نیست بلکه امور دیگری نیز در قرآن به عنوان وسیلهٔ امتحان آمده است مانند : فرزندان، پیامبران ، دستورات خداوند (ج) حتی بعضی از خوابها ممکن است از وسایل آزمایش باشد. تمام شرور وخیرها از وسایل آزمایش محسوب میشود.

«ونبلوکم بالشر والخیر» (۳۵ - انبیاء)

بنا براین مواردیکه در آیهٔ مبارکه شمرده شده جنبهٔ انحصاری ندارد ، و لکن از نمونه های روشن و زندهٔ ازمایشهای الهی است .

و میدانیم که در نتیجه ی امتحانات الهی همانند امتحانات مردم

د افغان نسل به څنګه ، د روس ظلم له زړه وباسي ؟
په پرېږدو چې چا نه کړه د یزید کربلا هېره

د احساس هره څپه مې انتقام ، انتقام وا یې
د روسانو ناکرده یې به ، کومه یوه شي له چا هېره ؟

چې لمبې ورته لټېږي ، چې ناپالم پرې وریږي
پوستین غورزوي د واورو ، هندوکش کړ سواهېره

د افغان خاورې هغه وخت لا لینین ، په خوب لیدله
چې ساده عالم د برژر کړه یې د قفع بخارا هېره

د پراګ غوندې مرکز یې د فټبال په لوبه وینې
خو په د غودنګو غږ وکې له بلاوه بلوا هېره

یوه ملنده یې ګڼله ، کربملین ته بنکاریدله
حماسه د افغانانو چې کیسنه ده ، اما هېره

د لته هغه قام اوسیږي ، چې د نیا یې لرزولې
د نیکونو کارنامه یې ، له هیڅوا نه ده لا هېره

هر زلمی پې د پښتې خان ډدی، هر ناوې «رابیا» ده
په ټاټر ورځې چرو ته، ترې د سر وې سودا هیره

هر افغان توپک په لاس کې فریاد ته وروتلی
له زړو پې زړ بودې شوه، له زلمو پې زلما هیره

چې ماشوم پې په زانګو کې د زمري په غاښ لوبیږي
له زلمو به پې کړې څه شي، د همت تقاضا هیره؟

د تکبیر آواز چې جګ شي، په میدان د ننګ وتګ کې
کړي له زړونو تر غاښ یانو، د سرونو سپما هیره

د جهاد - جهاد ځاري چې، د ایمان خاوندان واوري
هره چاره - هره دنده، کړي د خدای په رضا هیره

اوس لا وخت دی نړیوالو!! که له دې غږونو درواوښت
له دې سره سملاسه نه ده، ورانیدا - نړیدا هیره

سور سیلاب د کړیلین، که سمندر ته هم ورګډ شو
اندیښنه د تمبولو پې، باید کړي د ننیا هیره

اوس لا وخت دی، اوس لا وخت دی، دنیه ویدو را پاځئ
له روسانو په کابل کې ده، هاویه د عـــوا هیره

که دا روس - دا پې حملې وي، مدنیت تد لوی خطر دی
را ځئ کړو ورنه په ګډه، دیورال د غه خوا هیره

ترهغو به روس غوریږي، ترهغو به روس بلوسیږي
څوچې نه شي له مجبور و بندګانـو هـورا هیره

جام د جم له لاسه اخلي - آئینه له اسکندر نه
خشونت د دې خش کړي له مجنونـه لیلا هیره

یو ایټم ورځنه واخلئ، که ایمان پې نه ځ لا ښه
د وحشیانو څه له دینه؟ پرېږدئ وي پې عقبا هیره

د جهان ښیلو خیال پې باید و دباسو له ســره
لکه څنګه چې لینین کړه په اُسقف کلیســـا هیره

دا مادی امکانات موږ هم له پې دیسنو باید واخلو
لکه د پې ساده پرســـتو په ولس کړه معنا هیره

نه به روس ؤ- نه به غم ؤ، نه پې د انتظام د نظم
د« چرچیل » خبر کړ نه وای له غږه امریکا هیره

اوس هم وخت دی- اوس هم وخت دی، د خپل غږ نیولا کړې
که نه دهر ژر به په درستو، د غږ نن کړې سبا هیره

نن په ما- سبا په تا ده، چې کړې هغه به ریبې
که د نیا له مو پر لاس واخیست، مور به هم کړو د نیا هیره

په خپل خدای ؒ ز مو پر بکیه ده، خپل همت به مو ملاتړوي
که ریښتیني ملګرتیا شوه، له مسلم او ترسا هیره.

کراچی ۲۵ / ۱۱ / ۱۳۶۳

ورک سپاهي (د ۳۵ پاڼې)

روسان کې د فراري عسکر په ژوندي پاڼې کیدو شکمن شول، نې بیا دهر ورانۍ کوي خو په مړو پسې چندان سر نه خوږوي!

نوشتهٔ حاجی

قطرهٔ خون

هردو رفیق یک سنگر بودیم، و مدت ها با هم یکجا به مقابل دشمنان خداو وطن جنگیده بودیم . آن شب هم امر خدای یکتا را لبیک گویان در یک سنگر پهلوی هم بودیم - هان شب اهریمن تاریکی و اسارت را با صدای ملکوتی « الله اکبر» و نور روشنی بخش میلهٔ تفنگ درهم- کوبیده وکرو کور ساخته بودیم .

شب دگر چادر سیاه خود را می پیچید و جای خود را به روز میداد - دیگر صداهای مسلسل تفنگ ها و ماشیندار ها خاموش شده بود ... تنها ....وتنها... یک یکان فیری شنیده می شد .

ما برای خود سنگر عمیقی ساخته بودیم - طوریکه می توانستیم ایستاده بجنگیم . او گفت :

دیگر صبح شده من بیرون میروم، تا احوال دیگر برادرها را بگیرم ،

خواستم من بروم ولی او اصرار کرد ،

دست هایش را بر لبهٔ سنگر نهاد و با خیزی بر دستهای

خود ایستاد - هنوز پاهای خود را از داخل سنگر جمع نکرده بود که صدای غیر ماشینداری زمین را لرزاند .... چند گلوله بر لبهٔ سنگر ما نشست و چند تا هم از نزدیک سرم ناله‌کنان گذشت. من به سرعت خود را به زانو بداخل سنگر انداختم اما او ...

پاهایش بداخل سنگر کشان بود و با سینه برلبهٔ سنگر افتاده بود .... من به زیر پاهای او قرار داشتم .... سرم را بلند کردم و صدایش کردم:

غازی ... ! غازی ... !

جوابی نشنیدم .... پایش را تکان دادم و دوباره صدا کردم:

غازی ! پائین شو .... بداخل سنگر بیا ....

ولی او ....

او از جای خود تکان نخورد .... قطرهٔ گرمی از بالا چکید و بر رویم نشست.

دستی بروی خود کشیدم و مقابل چشمانم گرفتم:

قطرهٔ خون بود ... !

پاسنی

دنه هغه شوه نه دا

هغه وخت چې لا موټر رونه وو راغلي، ساده سړي په خره پښه واړوله، له باچا خوا مخ په کوټې روان شو

چا ورته وویل: ماما! چېرې له خیره؟!

ماما وویل: کوټې ته څم.

هغه بیا وپوښتل: په کوټې کې دې څه لاس مې کار دی چې دومره ستړیا په ځان تاړوې؟

ماما وویل: پنوړکار مې ننشته خو ما ویل زه به یوه چکه سابون راوړم او خر به مې کوټې وویني.

بریژنیف چې په افغانستان د بیرغل تکل کاوه، که څه هم هلته په څنګه او ولې خولې ماتیږي، د پارلمان غړي بس لکه کوک شوې ګوډۍ د باداران د زړه د خوشالۍ له پاره د تایید سرونه خوځوي، که څه هم د شورۍ تالار ته د فکر او دلیل وړوړل جبداً منع دي او پرته له عمومي منشي څخه پنوړ باید هیڅ وې اظهار نظر نه وکړي، که څه هم جلته آزادي دنه شته، اخبارونه، مجلې او

د رستې خپرونې پس د هغه څه د خپرولو اجازه لري چې د مشر هري خبرې ته منطقي پر توګ ورواغوستلای شي، بیا هم ممکن چا پوښتنه وي. چا؟ ښځې، زوی، لور یا د بر نژدې اوصمیمي دوست چې په دې کار کې ډبه دې څه ګټه وي؟ حتا به ده ورته ویلی وي: مونږ به په دې ورځپاڼې تګ له یوې خوا ستودو ښودنه د رسیدلو او د خلیج فارس د نفت خزانو سیمو د لاسنډۍ کولو لاره لنډه کړې وي، له بلې خوا به مو د افغانستان په نفتو او ګاز و فوري چاره شوې وي، بل به خپل وفادار نوکر کارمل خواږه څو ورځې په کابل کې وخړوو. یعنې مونږ به ډیره چکه سابون رواړو او خر به مو کونډ وینې.

خو د خدای (جل‌جلاله) اراده بله وه. ببرېژنیف له پټولو ناولو ارادو سره د دوړځ کنډې ته ورولویدو. ورپسې اندرې پوف ډک‌ډک ورسره ډیوې، اوس یې د چرنینکو هم ساه غږنډې ته راورسیدلې ده. د کارمل په خال هم که څوک خبر شي د ارګ ټټر چمتو نیو به د ماسکو په تش آخور ډیر خوښ وی.

د کرېملین احمقانو ډېرې لنډې مندې وکړې خو، نه یې په خپله کومه دامې چکه سابون لاس ته ورغی چې خپلې په وینو لړلې جامې او د مخ توره داغونه ورپاندې پاک کړي، نه یې خره په داده زهر کونډ ولیدای شو.

«یاد فریاد» کتاب

بالآخره د افغانستان د نامتو شاعر او لیکوال بناغلی محترم سید شمس الدین مجروح د پښتو او دری اشعارو یوه ښکلی مجموعه د « انجمن نویسندگان مجاهد افغانستان» له خوا خپره شوه .

د محترم او فاضل مجروح صاحب شخصیت مترڈپ لوړدی چې موږ پې معرفې کړو . ډیر کاله پخوا د دوی د شعرونو په هکله نامتو ادیب مرحوم الفت لیکلي وو :

« د بناغلی سید شمس الدین له لوړې فریحې اوشعروزنکی استعداد څخه ځینې داسې اشعار پیدا شوی دې چې که د اشعارو پرل او پلورل رواج وای او د شعر په ورکړه راکړه دیو شعر دبل کیدلی ؛ ما به خپل خو شعرونه دده په یو شعر ور کړی وای او ډیر به خوښ وم چې دده ځینې اشعار زما وای » .

تر هغه هم ډیر پخوا مرحوم قیام الدین خادم د بناغلی مجروح صاحب ادبی پوهې ته په ډیر ارزښت قایل وو او

په خپل یو شعر کې وایي :—

مه غواړه صله څه زاخپلې ثنوره له چا څنې
قدر کړي مجروح په زړه مخلص ستاد ویلو

دا مجموعه چې د « یاد فریاد » په نوم خپره شوېده د محترم مجروح صاحب د لاس تد راغلو شعرو نو ګیډه ده ، په دې ګیډه کې د ادب راز راز ګلونه ترلې شوي دي چې دنیې پېړۍ د مختلفو حالاتو عکاسي او ترجمانی کوي ، کله محترم پاچا صاحب د خود خواهۍ او خودکامۍ په دې تورتیاره دور کې د سپېڅلو عواطفو او پې شایبې مینې اصلي منبع وموږي کومه چه د ژوند حیثیت لري ، یعنې د مور زړه لوند مورینه او عواطف .

کله بیا د خواږه وطن په یوې بنکلې سیمه د محبوبې اوآښنا په برید کې لاس ترغاړه جمال او جلال ته ګوري او په پرو زړه راکښونکو تعبیرونو او خوږو جملو د سپېڅلې عزم ورپخلنې احساس لوستونکو ته القا کوي چې د هر شاعر په وس کې نه ده ، کله د بلبلو په زیارت ناست وي ، کله له فلک سره راز ونیاز کوي ، کله د بهار پیغام راوړي ، کله له سپوږمۍ سره غیږې کله فلک ته مخاطب وي ، کله خپل هېواد ته ، کله خوشحال بابا ور په زړه کیږي ، کله د آخرت سفر ، کله د نړۍ له سترګو جاریږي چې « هرڅه وینې د چا نه وائې حالونه » ، کله د بنمن ته خبرداری ورکوي :

ټینګ مې مه بوله غوږ زنګ رابانګ مه کړه زه پدې افتاد ګې لوی ګرنګ یم

به دو گروه تقسیم میشوند ، گروهی از عهدهٔ آن برآمده و گروهی ناکام میشوند .

مثلاً مسلهٔ ترس و وقتی پیش می آید گروهی خود را می بازند و بخاطر آنکه کوچکترین ضرری برای آنها پیش نشود شانه از بار مسئولیتها خالی کرده بطور مثال در وقت جنگ فرار میکنند ، از ترس آنکه مبادا از طرف دشمنان ضرری ببینند با آنها دوست میشوند و با عذر تراشیها نظیر :

« نخشی ان تصیبنا دائرة » میترسیم ضرری به ما متوجه شود . »

از تکلیف الهی و مسئولیت خود سر باز میزنند .

اما گروه دیگری در مقابل عوامل ترس کاملاً خود را حفظ کرده و با ایمان و توکل بیشتری خود را برای هرگونه فداکاریها مهیا میکنند ، چنانکه قرآن مجید میگوید :

« الذین قال لهم الناس ان الناس قد جمعوا لکم فاخشوهم فزادهم ایماناً و قالوا حسبنا الله و نعم الوکیل »

« وقتیکه به مردم باایمان میگفتند : اوضاع خطرناک است ، و دشمنان شما مجهز اند ، شما عقب نشینی کنید ، بر ایمان و توکل آنها افزوده می شد . »

این بود نمونه ای از رفتار دو دستهٔ از مردم در مقابل عوامل وحشت و ترس که یکی از امتحانات الهی است .

چند نکتهٔ راجع به آزمایش :ـ

کله بیا ډیرې په زړه پورې څلورېځې وایي چې هره یوه یې ښه خوند او ښکل کیف لري، په هره یوه څلورېځه کې نوې مضمون په نوې تعبیرکې نغښتې دی چې واقعاً په پښتو ادب یوه ډېره ښه اضافه ده. کله بیا په درې ژبه د هجرت په کالیزه د زړه سرپاس باسي، کله بیاد آلمان په لیدلو د وطن په یاد د ریغا ګونې په پاڼه پاڼه او د خپل وران جومات په یاد د کلیسا د ارغنون په بانګ ژاړي.

«یاد فریاد» ډېر نفیس اثر دی چې په لوستلوې د احسرت پیدا کیږي چې کاشکې د پاچاصاحب بنورشعرونه هم له منځه نه وای تللی.

کله چې د یوې مجموعې ټول شعرونه د انتخاب وړ وي نو «کار صاحبدلان شود مشکل». له دومره غوره او نفیسې مجموعې د ځینې شعرونو او فردونو انتخاب را ته ګران شو، ښه به داوي چې محترم لوستونکي کتاب لاس ته ورورې او له ټولو شعرونو یې خوند واخلي- موږ به یې په لیږو دری شعرد مجلې تله درنه کړو.

د غازیانو سنگرونه

مقدس سنگر : د دفاع سنگر وي او د حق ، د جهاد سنگر وي او د غزا ، د دین د پالنې سنگر وي او د هیواد د ساتنې ، په دې سنگر کې هغه کسان راټولیږي چې ایمان لري او عقیده ، عزم لري او اراده تکل لري او توکل په خدای ، دا سنگر نه ټانکونه سایې او نه پې الوتکې ځارسته کوي ، د مادې په دنیا کې نه قوي تجهیزات لري او نه پیاوړي آلات ، خو دا سنگر معمولاً د بري سنگر وي او د سوبې ، د ویاړ سنگر وي او د افتخار ، سرلوړي سنگر وي او ایمان پښتلی ، ددې سنگر په وړاندې ټول مادي قوتونه مات شي او ټول عصري آلات او تجهیزات بې اغیزه ، او دا سنگر په پای کې د بشپړ بریالیتوب سنگر وي ځکه چې لوی خدای (ج) په خپل سپېڅلی کلام کې د حق د سنگر د محتوم بری وعده ورکړې ده .

په افغانستان کې دا اووه کاله کیږي چې د باطل په مقابل کې د حق سنگرونه جوړ شوي ، د الحاد په مقابل کې د توحید سنگرونه فعال شوي او د وحشیانه تیري

په مقابل کې د مقدسې دفاع سنګرونه تاوده شوي دي ؛ دا سنګرونه ورځ په ورځ متودیږي او د بښمن ته ورځ په ورځ د افغانستان مځکه سره کیږي .

د غازیانو دا سنګرونه د هر افغان له پاره د ویاړ سنګرونه دي او د هر مسلمان له پاره ، دا سنګرونه د شهیدانو د پاکو وینو په قیمت ساتل شوي او د دوی د قبرونو «دیوې» پې روښنه ساتي او د آزادۍ د لمر تنا وونه وربته رالنډوي .

هو ! ددې تودو سنګرونو تر څنګ ، د غازیانو سنګرونه ، یوه ادبي ګل ګیډۍ هم ده چې د هر غازي غاړه او د هر شهید مقبره ګلپوښه کوي او د ادب مټانه ګلونه پرې شیندي

دا شعري مجموعه د بنا غلي عبدالرشید خان رشید د فکر محصول او د عقیدت ډالۍ ده ، حساس شاعر جسماً په با جوړ کې ژوند کوي خو روحاً د هر غازي په سنګر کې حاضر او د دوی د بریو او سوبو ناظر دی ، دی د جهاد او غزا ، د تورې او بري ، ویاړ او افتخار د اصغې په ادبي طراوت او ادبي بڼکلا انځوروي او د شعر ادبي غږې ته پې سپارې .

د بنا غلي رشید شعرونه خو ږ آهنګ او شرنګ او ترنګ سره د ویلو جوړښت هم لري او دا حماسي د حماسي سندرو په ډګر کې ژوندۍ کوي او

اولس شعله کوي پې م :

وطن کچیغه شوه غزا ده
ځوانان توپونو له ورځې خالي لاسونه
زړه کې ددین جذبه پرته ده
زلمي په ننوم د اسلام وینه ورکوینه
د اسلامي جذبې طاقت دی
په د ښمنانونو باندې پې وار ول ټینکوینه
د ښمن غټه اراده وه
خو افغانانو ورله وران کړل ټول پلانونه
د اسلامي جذبې طاقت دی
د ښمن به سرې خپله کړینې له راوړینه
چې افغانان زلمي بیدار وي
د ښمن به څنګه په آسانه خوب کوینه
د ښمن پې د اسې په ژړا کړو
چې تر پښو پورې به اوښکې پاکوینه
خار د افغان د وینې خارشم
د وینې هر څاڅکي افغان وزېرا وینه.

په لنډیو سربیره د رشید په شعرونو کې خوږې غزلې او لوبې هم شته او کله-کله د چاربیتو د طرز نښې هم پکې وینو .

د بسا غلي رشید شعر ساده او روان دی، له ژورو ادبي پیرایو او کنایو نه څنګ کوي ، د اولس په ژبه

له خپل اولس سره غږیږي او د جهاد اډي سنګرته د حماسو په غږولو سره ټوده والی وربښي او رنګینی :

کړم د غازي په جنګیدلو سلام
په آزادۍ د وطن و ژلو سلام

هغه د وخت مقابله چې کوي
د جنګ میدان کې حوصله چې کوي
ځار د شهید په سر بایللو سلام
په خپل وطن چې مال او زر ورکوي
لکه پتنګ په شمع سر ورکوي
وایم په هغو سوځیدلو سلام
د حسنیانو پوره حال وګوره
په کربلا د دې کمال وګوره
چې کاینناتو پرې ویلو سلام
رشید متړې ځار شه دین اسلام دې زما
سر د الله په نوم انعام دې زما
د حقیقت په لار ښودلو سلام

•

د کتاب «انتساب» «د هغه غازي په نوم» شوی «چې په وږي خپته او په تش لاس د وطن د آزادۍ د پاره د ستور استعمار په ضد جنګیږي». ورپسې د شاعر سریزه ده چې له میرښو غازیانو سره خبرې پکې کوي او خپل پاکاهلس پکې څرګندوی. بیا د حسن آغان په ټوګه د پښتو د ټولنیالی

شاعر او لیکوال سمندر خان سمندر له « پښتنې ټوکې » نوې اثر نه د موضوع سره د ارتباط په ټوګه « د ملالې پښتو » چې د میوند د قهرمانې بهادرې ښځې رانقلوي او بیا خپل نظم ونه پیلوي :

ننګ مجاهدو ملاتړلې د لښکر ورځ ده
جامې په وینو باندې وینځې د سنګر ورځ ده
ننګ د افغان په پاکه خاوره کړیلاجوره ده
د مظلومانو په کور وینو وا ویلاجوره ده
ننګ د دنیا په هر یو ګوټ د زور ور ورځ ده
ننګ پې کښته په دې زمکه افغانان خښیږي
ای لویه خدایه ! ننګ ژوندي مسلمانان خښیږي
دښمنان دا چې وهي چې د بزګر ورځ ده
ای د دنیا مسلمانانو! اتحاد جوړ کړئ
د افغانانو وران کور ونه په امداد جوړ کړئ
د کونډو ژړا، یتیمانو د خاطر ورځ ده
د ظلم شپه د افغانانو په وطن خوږه ده
دا د دنیا د مؤمنانو په بدر خوږه ده
په دې تیرو پسې رشیده! ډېره زر ورځ ده

●

د بناغلي رشید « سنګر ونه » ۴۸ مخونه لري په ۱۲ × ۱۸ سانتي متره کچه خپور شوی، په پوښ پې د غازیانو یو دا سې عکس راغلی چې د روس

نه یې اویه جنګي شنوبله په مبرانه نیولې او دوې پرې
دې پاسه ولاړ دي :

ګرځي افغانان ورته د غرونوپه سرونوکې
سرې وینې بهیږي د دښمن په سنګرونوکې

وګوره تاریخ ته بنسه صفا پکې لیکلې دي
څنګه یې اویه د دښمنانو په سرونوکې

مرګ د شهادت خو افغانان ترې نه بهترګڼي
نه تېروي ژوند د غلامۍ په زنځیرونوکې

دا ټوله دنیا په تماشه ورته ولاړه ده
تښتي دښمنان ترې نه پټیږي په غارونوکې

پیغلې څنګه په څنګ من د زلمو سره سنګر ته ځي
وینه د غیرت یې راخوښکیږي په رګونوکې

●

بناغلی رشید تودې وینه لري ، پخه مینه لري او رنګینه وینا
لري ؛ موږ ډډه پاک احساس او له خپلو افغانانو سره د اویه
خواخوږي ستایو ، د دې بنسکلي اثر مبارکي ورکوو
او محترم علاقمندان یې اخیستنې او لوستنې ته رابولو .

« یون »

محترم مجروح

خاطرات سفر المان

وقت وداع دوست نه تنها گریستم — با هرکه هر زمان و همه جا گریستم
وقت سفر به تخت سلیمان[1] در آسمان — مثل گدای رانده از درها گریستم
افسردگی چو سایه که هرجا با من است — در باغ و راغ و شهر و به صحرا گریستم
در موج لاله و گل و آن فصل نوبهار — با برگ برگ هر گل رعنا گریستم
مانند شمع روشن آتش به سر همیش — در جمع گریه کردم و تنها گریستم
در یاد آشیان وطن وقت با مداد — با نغمه های بلبل شیدا گریستم
خونین کفن شهید چو آمد به خاطرم — در باغ لاله[2] حمرا گریستم
هنگامهٔ حیات چو دیدم به هر دیار — گشته بلند تا به ثریا گریستم
دیدم چو آن حریت بی قید آن محیط — بر قید های دست و سر و پا گریستم
ما تمسرای خویش چو آمد بخاطرم — بر خنده های قهقههٔ مینا گریستم
در یاد مسجدی که فرو ریخت سقف آن — با بانگ ارغنون کلیسا گریستم
از ظلم و وحشیانه آن کافران روس — در صحنهٔ غم آور دنیا گریستم

از بحر بیکرانهٔ مـــواج زندگی
«یک قطره آب خوردم و دریا گریستم»

---

(۱) طیاره

(۲) مسجد شکورک یادگار پدرم و نمونه چوبکاری نورستان که حال به خرابه تبدیل شده است.

Monthly

SPEDE



VOL : I NO 8

۱- آزمایشهای الهی منحصر به گرفتاریها و ناگواریها نیست بلکه گاهی به لذتها و خوشی های مختلف انسان آزمایش می‌شود. «هذا من فضل ربی لیبلونی ءاشکر ام اکفر» هنگامیکه سلیمان (ع) قدرت پیروان خود را دید که توانستند در یک چشم بهم زدن تخت بلقیس را از مسافت دور حاضر کنند گفت: این نعمتها از فضل خدا (ج) است تا مرا امتحان کند که شکر گذارم یا کفران میکنم.

۲- لازم نیست همهٔ مردم به تمام وسایل آزمایش امتحان شوند بلکه ممکن است امتحان هر دستهٔ بچیزی باشد و بدیهی است این آزمایشها تناسب با روحیه و وضع اجتماعی آزمایش‌شدگان دارد.

۳- استقامت مردم در مقابل امتحانات گوناگون متفاوت است، ممکن است در مقابل از امتحانات برنده شوند و در مقابل آزمایش دیگری کنترول خود را از دست بدهند و ناکام گردند.

۴- آزمایش هرکسی قسمی برای دیگران امتحانی است، مثلاً: شخصیکه گرفتار مصیبتی می‌شود همین گرفتاری او برای دیگران نیز امتحان است، آیا همدردی با او میکنند یا نه؟ به فریاد دردمند ان می‌رسند یا نه؟

۵- امتحانات همانطوریکه اشاره شد عمومی است حتی پیغمبران مشمول امتحان شدند بلکه آزمایش آنها به نسبت مسئولیت آنها بدرجات شدیدتر و مشکلتر از آزمایشهای دیگران است زیرا آنها برای رهبری و هدایت مردم باید دورانهای

سیاستی ادبی مجله

سپیدک



(۸)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا يُخۡرِجُهُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى
النُّوۡرِ ؕ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اَوۡلِيٰٓـئُهُمُ الطَّاغُوۡتُ
يُخۡرِجُوۡنَهُمۡ مِّنَ النُّوۡرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓـئِكَ
اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ۝

سورة البقرة آيت (۲۵۷)

د پښتی عکس : زخمی غاټول :

په وطن کې اوس - اوس هم لاله غوږيږي
خو له لاسه د وحشت ژړ ټپي کيږي

لاپې داغ د سوي زړه ښودلی نه وي
چې په غږ ه د بيد يا کې و رژيږي

۱۳۶۳/۱۲/۲۱

وجه اشتراک سالانه :

در امريکا ۳۰ دالر
در اروپا ۲۵ "
در پاکستان ۶۰ روپيه "

شش ماهه، نصف قيمت

لومړی کال ۱ ته ګڼه ۱۳۶۳هـ ش د کب ۲۰مه
۱۹۸۵ع د مارچ مه

چلوونکی:
محمد صدیق پسرلی .

زمونږ پته:

G.P.O
P.O.BOX NO 665
PESHAWAR
PAKISTAN

بانکی حساب:

الائید بانک - حیاتنګر پوره برانچ
اکاونټ نمبر ۲۰۲۰۲۰۱

فهرست

پاڼه	د مضمون عنوان	لیکوال	نمبر
۱	تفسیری ـ از آیات قرآن حکیم		۳
۲	پیام محمود غزنوی ـ به	استاد خلیلی	۱۵
۳	د بهار ګلونو !	همیش خلیل	۲۱
٤	بهار ته !	عبدالله غمخور	۲۳
۵	ندای طور	بطحائی	۲۵
٦	بیا پسرلی شو، خو	محمد آصف صمیم	۲٦
۷	ورك سپاهی	اسدالله غضنفر	۲۸
۸	وطن به آزاد کړم !	محمود فارانی	۳٦
۹	د ویر ونو مابنام	بورا	٤۳
۱۰	د روسیې د ننه څه کیږي ؟	میرزاخیل پښتون	۵۱
۱۱	روسان اوافغانی لرغون پوهنه	د اکتر روف وردګ	۵۵
۱۲	زما د جهاد ابتدا	حاجی چشتی	٦۲
۱۳	لنډی	ـ	۷۰
۱٤	د چرګینکو مرینه	ح ، رفیع	۷٤
۱۵	د تاریخ غبرګون	یون	۷۵
۱٦	بیا بهار دی	پسرلی	۷۸
۱۷	قطرهٔ خون	حاجی	۸٤
۱۸	نه هغه شوه، نه دا	پاسنی	۸٦
۱۹	نوي کتابونه	ـ	۸۸